الرَّدُّ الوافرُ علىٰ الأثیم الفَاجر

یعنی

د یارسول اللّٰہ آواز

مؤلف

ابومحمد امین اللہ البشاوری

حفظہ اللہ تعالیٰ

مکتبہ محمدیہ

مکل مارکیٹ پیرون گنج پیښور

کل حقوق محفوظ دی

کتاب ـــــــــ «د یارسول الله آواز» (بے مطلبه چغه)
مؤلف ـــــــــ شیخ القرآن والحدیث ابو محمد امین الله
البشاوری حفظه الله ورعاه
کمپوزنګ ـــــــــ ابوزهیر سیف الله البشاوری (عفی الله عنه)
تاریخ ـــــــــ (۱٤۳۱ هـ محرم الحرام ۲۹)
طبع دوم ـــــــــ الموافق (۲۰۱۰/۱/۱۵ء)

ناشر

مکتبه محمدیه

بیرون ګنج ګیټ منګل مارکیټ پېښور ښار
03018828402 ولی الله

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ
اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَامُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْ
فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنْ لَّااِلٰـهَ اِلَّااللّٰـهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ
وَرَسُوْلُهٗ ط

اما بعد : الله رب العالمین خپل رسول محمد ﷺ تول
امت ته رالیږلے دے، دے دپاره چه امت کښ د الله په ذات او
صفاتو یقین راشی او د ایمان او د توحید په نور باندے
رنګ شی، او د هر قسم شرك، کفر، بدعت او د ضلال نه
بچ پاتے شی، او دا په هر نبی فرض وی چه هغهٔ به خپل
امت ته د خیر خبرے وراندے کوی او د تولو غلطو او شری
خبرو نه به ئے منع کوی لکه دا خبره په صحیح حدیث د
مسلم (۱۲٦/۲) او ابن ماجه (رقم : ۳۹٥٦) کښ راغلی ده
(اِنَّهٗ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ قَبْلِيْ اِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَيْهِ اَنْ يَّدُلَّ اُمَّتَهٗ عَلٰى مَا
يَعْلَمُهٗ خَيْرًا لَّهُمْ وَيُنْذِرَهُمْ مَا يَعْلَمُهٗ شَرًّا لَّهُمْ...... الحديث).

(زما نه مخکښې هيڅ نبي داسې نشته چه مګر په هغه بانديې دا لازم وه چه خپل امت ته به هغه خير ښائي کوم چه ده ته معلوم دے او يروي به ئې د هغه شر نه چه ده ته معلوم دے)۔

نو کۀ يو سړے وائي چه دا مسئله د رسول الله ﷺ نه نقل شوے نۀ ده، ليکن د خير خبره ده، نو عمل پرے مستحب دے، نو غلط وائي، ددے مذکوره حديث نه مخالف ده۔

نو هرۀ مسئله باندے دليل د قرآن او د سنت صحيحه … د اجماع نه پيش کول فرض دی، کۀ هغۀ د عقيدے مسئله وی او کۀ د احکامو سره تعلق لری۔

هرکله چه دا معلومه شوه نو دلته بعضے ناپوهانو يوه مسئله خلقو ته پيش کړے او پيش کوی ئے بلکه په مساجدو کښې ئے ليکی او څوک چه په هغۀ مسئله رد کوی، نو هغوی ورته کافر او بے دينه وائی، نو راځئ چه دا مسئله په قرآن او سنت کښې اُوګورو، ځکه چه د اختلاف ختمولو دپاره الله تعالیٰ قرآن او احاديث راليږلی دی۔

الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِیْ شَیْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَی اللّٰهِ

وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ تَأْوِيْلًا﴾ (النساء/٥٩)

(که ستاسو په څه خبره کښې جګړه راشی نو الله او د هغۀ رسول ته ئے واپس کړئ، کۀ چرے ايمان لرئ په الله او په ورځ روستنئ، دا کار ډير غوره او ښائسته انجام والا دے)

علامه ابن کثيرؒ ددے آيت لاندے ليکی: «هرڅوك چه فيصله د الله کتاب او د رسول الله ﷺ سنت ته نۀ پيش کوی نو هغۀ کافر دے»۔ (تفسير ابن کثير ١/٥١٨)

او هغۀ مسئله دا ده چه آيا «يامحمد» او «يارسول الله» وئيل د رسول الله ﷺ د وفات نه روستو يا د وړاندے (جدا) ځائے نه غائبانه آواز کول جائز دی او کۀ نۀ؟ ددے مسئلے تحقيق تاسو دلته اُوګورئ او بيا د ځان سره انصاف اُوکړئ، او دا اُووايئ چه «اَللّٰهُمَّ اَسْتَهْدِيْكَ لِاَرْشَدِ اَمْرِیْ»

(اے الله! زۀ تا نه د ډير هدايت والا خبره غواړم)۔

او په اخلاص سره داسے اُووايئ:

﴿ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴾.

(اے الله! ما ته نيغه لاره اوښايه!)۔

لا هغۀ اوګده دعاء اولوله کومه به چه رسول الله ﷺ په

تهجدو کښې لوستله:

(اَللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ) تر آخر پورې. نو الله پاك به حق درنصيب کړي، هر طرف ته چه وي.

او ددې رسالې باعث په مونږ باندې ډيرعلماء وو او مولوي اسد الله ننگرهاري ما ته يوه رساله راوړله چه د هغې نوم «احسن المآرب» دې او په هغې کښې ئې غير الله ته چغه وهل جائز کړي دي، او هر غائب ته آواز کول ئې حلال گنړلي دي چه د هغه رسالې نه زمونږ گرد ونواح ډيرو مبتدعينو استدلالات کول ځکه د دوي په نزد د شاميّ عبارت د قرآن او حديث نه زيات اهميت لري، شاميّ ځۀ چه هره توره کرخه د دوي په نزد معتبر دليل دې، تردې چه يو په نوم مُلا ما پسې د ډيرو کتابونو حوالې راوليږلې چه هغۀ کتابونه هغۀ ليدلي هم نۀ دي، ليکن د دغه مذکوره رسالې نه ئې ليکل کړي وو.

او ددې مثال حديث کښې دې: (اَلْمُتَشَبِّعُ بِمَا لَمْ يُعْطَ كَلَابِسِ ثَوْبَيْ زُوْرٍ) (بخاري ٧٨٥/٢) مسلم (٢٠٦/٢) ترمذي (٢)

(چا لـه چه يو صفت نۀ وي ورکړې شوې او هغۀ ئې ځان کښې ښکاره کوي، دا داسې دې لکه د دروغو دوه جامې ئې چه اغوستي وي)

نو زۀ اُوس - ان شاء الله - پدې رسالې سره جواب ورکوم ټول اهل بدعت ته او هغوی دې دا اُوگوري او دا رساله يوائې دا مسئله نۀ ذکر کوي بلکه دا مشتمله ده په ډيرو قواعدو او اصولو او دلائل شرعيو باندې نو - ان شاء الله - چه زياته مفيده به وي، ځکه چه ما په خوب کښې ددې کسانو رغړول او ذليل کول ليدلي دي، پس د استخارې کولو نه.

دې رسالې کښې به د حق دلائل مخکښې ذکر کيږي تفصيلًا او بيا به د باطل پرستو څه دليلونه او د هغې صحيح جوابونه ذکر کيږي - ان شاء الله.

وما توفيقي الا بالله عليه توكلت واليه انيب.

(ثلاثاء صفر المظفر ٢٠/١٢/١٤١٢ هجري)

0000000

د حق پرست دلیلونه او تائیدات

هرهٔ مسئله قرآن او سنت کښې شته نو اول د هغې نه دلیل ذکر کول ضروری وی او قرآن او سنت ناقص نهٔ دی لکه څرنګ چه باطل پرست دا غلط ګمان لری :

اول عظیم دلیل د قرآن کریم نه :

(قال الله تعالیٰ فی قوله الصادق :

﴿لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ط قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ج فَلْيَحْذَرِ الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾

(سورة النور آیت ٦٣ پاره ١٨)

(الله رب العزت فرمائی: مهٔ ګرځوئ آواز رسول الله ته په خپل مینځ کښې داسې لکه تاسو چه یو بل ته آواز کوئ، الله هغهٔ کسان پیژنی چه ستاسو نه پټیږی، پس اُوډې یریږی هغهٔ کسان چه د رسول الله ﷺ د امر او حکم خلاف کوی چه یا خو به پرې فتنه راشی او یا به سیږی

دوی ته دردناك عذاب)

دا دآیت حاصل دا دې۔ ددې آیتِ کریمه په تفسیر کښ

د حق پرست علماؤ تفسیرونه اُوګوره !

علامه ابن کثیرؒ (٣٠٦/٣) کښې فرمائی :

(قَالَ الضَّحَّاكُ : كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ يَا مُحَمَّدُ يَا اَبَاالْقَاسِ
فَنَهَاهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَنْ ذٰلِكَ اِعْظَامًا لِلنَّبِيِّ ﷺ قَالَ فَقُوْلُوْا يَ
نَبِيَّ اللّٰهِ، يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَهٰكَذَا قَالَ مُجَاهِدٌ وَسَعِيْدُ بْنُ جُبَيْ
وَقَالَ قَتَادَةُ : اَمَرَ اللّٰهُ اَنْ يُهَابَ نَبِيُّهٗ ﷺ وَاَنْ يُبَجَّلَ وَاَنْ يُعَظَّ
وَاَنْ يُسَوَّدَ)

(ضحاكؒ وئیلی چه صحابه کرامو به رسول الله ﷺ ته
یامحمد او یا ابا القاسم وئیلو نو الله تعالیٰ ددې نه منع کړ
دپاره د تعظیم د نبی ﷺ او ورته ئې اُوفرمایل : چه داسې
وایئ یا نبی الله او یا رسول الله۔ دغه شان خبره مجاهد او
سعید بن جبیر کړیده او قتاده وئیلی دی چه الله تعالیٰ
حکم فرمائیلې دې چه د هغه د نبی د حکم نه هیبت اُوکړې
شی او د هغه تعظیم او اجلال او اکرام اُو کړې شی)۔

حاصل دا دې چه دې آیت کښې الله پاك د (یا محمد) د
وئیلو نه منع کړې ده، ځکه دا د نبی ﷺ بې ادبی ده، او د

نبی علیه السلام مشروع تعظیم کول پکار دی، دا یو تفسیر دے پدے آیت کښ نو چه قرآن د (یامحمد) نه منع اُوکړه نو بیا کوم کس دے چه هغهٔ پدے کښ اجازت ورکړی او کهٔ نهٔ دا آیتونه ستاسو په نزد هیڅ حقیقت نهٔ لری یا منسوخ شوی دی، لکه په هر ځائے کښ دا خلق وائی چه دا منسوخ شوی دی او دا منسوخ دی، دارنګه د قرآن په مقابله کښ د بل کتاب هیڅ حیثیت نهٔ شته، چه انسان هغهٔ پیش کړی او دا به مفصله روستو راشی۔

دارنګه اُوګوره تفسیر قرطبی ۱۲/۳۲۲)

(یُرِیْدُ، یُصِیْحُ مِنْ بَعِیْدٍ یَا اَبَا الْقَاسِمِ بَلْ عَظِّمُوْهُ کَمَا قَالَ فِی الْحُجُرَاتِ) ۔(یعنی مراد د الله تعالیٰ دا دے چه د وړاندے نه چغے وهل مهٔ کوئ بلکه د رسول الله ﷺ تعظیم اُوکړئ)۔

دارنګه تفسیر علاء الدین الخازن (۳/۳۶۵) کښ دی:

(وَقِیْلَ مَعْنَاهُ لَاتَدْعُوْهُ بِاسْمِهٖ کَمَا یَدْعُوْ بَعْضُکُمْ بَعْضاً یَا مُحَمَّدُ، یَا عَبْدَ اللّٰهِ وَلٰکِنْ فَخِّمُوْهُ وَعَظِّمُوْهُ وَشَرِّفُوْهُ الخ)۔

(معنیٰ دا ده چه په نوم باندے رسول الله ﷺ ته آواز مه کوئ لکه یو بل ته چه آواز کوی داسے مهٔ وایئ: یا محمد یا عبد الله بلکه عزت او عظمت د رسول الله ﷺ اُوساتئ)

علامه محمد بن احمد جزی الکلبی په کتاب التسهیل (۱/۱۹۳) د سورة المائدے د آیت ﴿ اِذْ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ یَا عِیْسَی بْنُ مَرْیَمَ ﴾ لاندے لیکلی دی:

«نِدَاؤُهُمْ لَهٗ بِاسْمِهٖ دَلِیْلٌ عَلٰی اَنَّهُمْ لَمْ یَکُوْنُوْا یُعَظِّمُوْنَ کَتَعْظِیْمِ الْمُسْلِمِیْنَ لِمُحَمَّدٍ ﷺ فَاِنَّهُمْ کَانُوْا لَا یُنَادُوْنَهٗ بِاسْمِهٖ» ۔

مطلب دا دے چه حواریون د عیسی علیه السلام نوم مبارك واخستو په آواز کولو کښ دا دلیل دے پدے چه دوی به د خپل نبی دومره اکرام او ادب نهٔ کولو لکه چه مسلمانانو او صحابه کرامو د محمد ﷺ ادب کولو ځکه د ټولو مسلمانانو صحابه کرامو طریقه دا وه چه رسول الله ﷺ ته به دوی په نوم آواز هیچرے نهٔ کولو، دا دلیل دے پدے چه د ټولو صحابه کرامو اجماع ده پدے چه په «یا محمد» سره آواز کول د محمد ﷺ بے ادبی ده او بے ادب شخص له به الله پاك سخته سزا ورکوی، او کهٔ عقیده ورسره هم غلطه لری نو بیا خو هلاکت در هلاکت دے۔ دا عبارت تفصیل سره مطالعه کړه۔

دارنګه اُوګوره تسهیل (۳/۷۳):

«وَالْقَوْلُ الثَّانِیُ اَنَّ الْمَعْنَی لَاتَدْعُوا الرَّسُوْلَ عَلَیْهِ السَّلَامُ بِاسْمِهٖ»

(یعنی رسول الله ﷺ ته په نوم آواز مهٔ کوئ)

دارنګه العلامه المفسر الشوکانیؒ فرمائی :

«وَاَخْرَجَ عَبْدُ الْغَنِیِّ بْنِ سعید فی تفسیرهٖ وابونعیم فی الدلائل عَنْهُ اَیْضاً اَیْ عَنْ سَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ فِی الآیَةِ : لَاتَصِیْحُوْا بِهٖ مِنْ بَعِیْدٍ یَآ بَا الْقَاسِمِ وَلٰکِنْ کَمَا قَالَ اللّٰهُ فِی الْحُجُرَاتِ»۔

(د سعید بن جبیرؒ او د نورو مفسرینو نه نقل دی چه رسول الله ﷺ ته په نوم د (یا محمد) سره آواز مهٔ کوئ، او دارنګه د وړاندے نه ورته چغے مهٔ وهئ)۔

دارنګه دا معنیٰ پدے لاندینو تفاسیرو کښ اُوګورئ :

ایسر التفاسیر (۳/ ۲۵۹) المدارك (۳/ ۳٦۵) علی هامش الخازن، روح المعانی د علامه آلوسیؒ (۱۸/ ۲۲۵) قال :

وَاَخْرَجَ ابْنُ اَبِیْ حَاتِمٍ وَابْنُ مَرْدَوَیْهِ وَاَبُوْنُعَیْمٍ فِی الدَّلَائِلِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : کَانُوْا یَقُوْلُوْنَ یا مُحَمَّدُ ، یَا اَبَا الْقَاسِمِ فَنَهَاهُمُ اللّٰهُ عَنْ ذٰلِكَ بِقَوْلِهٖ سُبْحَانَهٗ :لَاتَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ الآیَة اِعْظَاماً لِلنَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ فَقَالُوْا یَا نَبِیَّ اللّٰهِ وَیَارَسُوْلَ اللّٰهِ، وَرُوِیَ نَحْوُ هٰذَا عَنْ قَتَادَةَ وَالْحَسَنِ وَسَعِیْدِ بْنِ جُبَیْرٍ وَمُجَاهِدٍ

وَفِیْ اَحْکَامِ الْقُرْآنِ لِلسَّیُوْطِیْ : اِنَّ فِیْ هٰذَا النَّهْیِ تَحْرِیْمَ نِدَا
ﷺ بِاسْمِهٖ وَالظَّاهِرُ اسْتِمْرَارُ ذٰلِكَ بَعْدَ وَفَاتِهٖ اِلَی الْآنَ
انتهیٰ)۔

د عبارت مقصد دا دے چه ابن عباس ؓ فرمائی
رسول الله ﷺ ته په نوم آواز کول حرام دی او ظاهره خ
دا ده چه دا اُوس هم حرام دی، منسوخ شوی نهٔ دی،
اُوس دِے د «یامحمد» ویونکے او لیکونکے سوچ اُوکړی
دا په کوم دلیل مونږ جائز کړی دی، آیا په تاوئیل
ماوئیلی باندے او کهٔ نهٔ څهٔ حق دلیل هم شته ؟ او کهٔ
دوی د عبد الله بن عباس رئیس المفسرین او حسن او قت
او سعید بن جبیر رحمهم الله نه ښهٔ پو هیږی چه دا لو
علماء دی۔

دارنګه اُوګوره لاندینی تفاسیر اُوګوره :

المظهری (٦/ ۵۷۲، تفسیر اضواء البیان للشنقیطی (٦/ ۵۱
صفوة التفاسیر (۳/ ۳۵۱) تفسیر الطبری (۱۸/ ۱۳۵) الب
المحیط (٦/ ٤۷٦، الکبیر (۲۵/ ٤۰) تفسیر جلالین (۳۰۲) معار
القرآن (٦/ ٤۵۵)

«لَا تَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بِاَنْ تَقُوْلُوْا یَا مُحَمَّدُ الخ»۔

وَاَيضاً قَالَ الصَّاوِیُّ عَلٰی هَامِشِ جَلاَلَين ص (١٠) :

لَاتَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ اَیْ نِدَاءُهٗ بِمَعْنٰی لَاتُنَادُوْهُ بِاسْمِهٖ فَتَقُوْلُوْا يَا مُحَمَّدُ وَلَا بِكُنْيَتِهٖ فَتَقُوْلُوْا يَا اَبَا الْقَاسِمِ وَاسْتُفِيْدَ مِنَ الآيَةِ اَنَّهٗ لَايَجُوْزُ نِدَاءُ النَّبِيِّ ﷺ بِغَيْرِ مَا يُفِيْدُ التَّعْظِيْمَ لَا فِیْ حَيَاتِهٖ وَلَابَعْدَ وَفَاتِهٖ).

(تفسير الطبری (١٨/١٣٤) عن مجاهد لا تقولوا يا محمد، تفسير جامع البيان (٢/٨١) البيضاوی (٢/١٣٦) الكشاف (٣/٧٩) تفسير البحر المحيط (٦/٣٧٥) زاد المسير (٥/٣٧٨) تفسير الثعالبی (٣/١٢٩) تفسير النهر الماد (٢/٥٥٨)

دے ټولو مفسرينو د «يامحمد» په وئيلو رد كړيدے۔نو څوك دے چه هغهٔ ددے علماؤ نه ښهٔ پوهيږی او څوك دے د صحابه كرامؓ نه ښهٔ عمل كونكے په قرآن او حديثو او كوم روايتو نه چه خلق ذكر كوی نو هغهٔ اكثرضعيف روايات دی يا مؤول دی لكه روستو به راشی ان شاء الله – ځكه صحابه كرامؓ د رسول الله ﷺ د حقوقو او آدابو ښهٔ پيژندونكی وو۔

دويم دليل : د قرآن كريم نه پدے مسئله باندے۔

الله تعالیٰ فرمائی :

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَاءِ الْحُجُرَاتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ﴾۔

(سورة الحجرات آيت : ٥، پاره ٢٦)

ترجمه : هغهٔ كسان چه آوازونه كوی تا ته اے زما نبی ! اخوا د حجرو نه اود ديوالونو نه، اكثر د دوی بے عقله دی)۔

پس د آيتِ كريمه نه واضحه شوه چه څوك رسول الله ﷺ ته چغے وهی، پس د هغے نه چه هغهٔ د دنيا نه لاړو او وفات شو نو دا بے عقله دی، غويا يا خر دے، نو څوك چه د «يامحمد، او يارسول الله» چغے وهی، غويان او خرهٔ دی، بلكه د هغوی نه پسے اخوا ته دی، اكثر دا قسم خلق مشركان هم وی۔

ددے آيت په شانِ نزول كښ د مفسرينو اقوال اُوګوره چه يقين ته دا خبره كوزه شی۔ (ان اراد الله بك خيراً)

او د قرآن پدے بهترينو الفاظو چه ډير عظمت والا دی لږ سوچ هم اوكړه اے مسلمانه چه قرآن كښ يوه مسئله شته نو د بل چا دليل ته څهٔ حاجت دے!

ليكن مونږ وايو چه دا خبره زمونږ يوائے نهٔ ده د ټولو صحيح مسلمانانو او علماء كرامو او مشائخ عظامو ده۔

اُوګوره۔

١ – اول مشهور تفسیر د علامه ابن کثیر (٢٠٨/٤) :

(قَالَ : وَقَدْ ذُكِرَ اَنَّهَا نَزَلَتْ فِى الْاَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ التَّمِيْمِيِّ فِيْمَا اَوْرَدَهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، قَالَ الْاِمَامُ اَحْمَدُ فِىْ مُسْنَدِهٖ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ فَذَكَرَ السَّنَدَ عَنِ الْاَقْرَعِ بْنِ حَابِسٍ اَنَّهٗ نَادىٰ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، يَا مُحَمَّدُ، وَفِىْ رِوَايَةٍ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمْ يُجِبْهُ، فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ، اِنَّ حَمْدِىْ لَزَيْنٌ وَاِنَّ ذَمِّىْ لَشَيْنٌ، فَقَالَ ذٰلِكَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ).

(دا آیت نازل شوے دے په باره د اقرع بن حابس رضی الله عنه کښې چه دهٔ رسول الله ﷺ ته آواز کړے وو په «یامحمد» او په بل روایت کښې راځی چه په «یارسول الله» سره او هغهٔ په کوټه کښې وو، نو رسول الله ﷺ جواب ورنکړو، بیا دهٔ اُووئیل : زهٔ چه د چا صفت اُوکړم، هغهٔ ډولی کیږی او د چا بدی چه بیان کړم هغهٔ عیب والا ګرځی، نو رسول الله ﷺ اُوفرمایل چه دا صفت خو د الله دے۔

دے حدیث نه صاف دوه خبرے معلومے شوے یوه دا چه «یامحمد» لوستل بے ادبی ده او «یارسول الله» وئیل په حالت د حضور کښې جائز دی، لکه دا به روستو ذکر شی،

نو دا آیت په رد د «یامحمد» کښې مطلق او په رد د غائبانه «یارسول الله» وئیلو کښې پوره دلیل دے، سره ددے حدیث نه لږ سوچ اوکړه اے مسلمانه !۔

دویم شان نزول :

(جَاءَ اُنَاسٌ فَجَعَلُوْا يُنَادُوْنَهٗ وَهُوَ فِىْ حُجْرَتِهٖ يَامُحَمَّدُ، يَا مُحَمَّدُ" فَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الْاٰيَةَ).

(ابن کثیر ٢٠٨/٤)

(څهٔ کسان راغلل او «یامحمد» چغے ئے وهلے او رسول الله ﷺ په کوټه کښې وو نو الله پاك دا آیت نازل کړو چه نبی علیه السلام ته غائبانه چغے وهل دے عقله خلقو کار دے، دارنګه اُوګوره :

الخازن (١٦٩/٤) المدارك (١٦٨/٤) التسهیل (٥٨/٤) فتح القدیر (٦١/٦٠/٥) القرطبی (٣٠٩/١٦) روح المعانی (١٤٣/١٣٩/٢٦) تفسیر القاسمی (٢٤٣/١٢) و(١٠٨/١٥) تفسیر النهر الماد علی هامشه (٤٧٥/٦) تفسیر الجلالین (٤٢٧) الصاوی (٧) حاشية المراغی (١٢٢/٢٦) تفسیر البحر المحیط (١٠٦/٨) تفسیر زاد المسیر (١٧٨/٧) تفسیر الثعالبی (١٨٦/٤) تفسیر البرهان فی مشكلات القرآن ص (٤٤٣) تفسیر اضواء البیان للشنقیطی (٦١٥/٧) تفسیر النهر الماد (٩٧٩/٣)

دا تفاسیر په بنهٔ سوچ سره اُوگوره نو علم کښې به ډېر
ضافه پیدا شی، او الله پاك به ډېر په صحیح لاره روان کړی
ه د هدایت په نیت ډېر اُوکتل۔

ooooooo

هغه احادیث
چه منع کونکی دی ددې بدې کلمې نه

۱- **اول حدیث :** (عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ : كُنْتُ قَائِمًا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَجَاءَ حِبْرٌ مِنْ اَحْبَارِ الْيَهُوْدِ فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا مُحَمَّدُ فَدَفَعْتُهُ دَفْعَةً كَادَ يُصْرَعُ مِنْهَا، فَقَالَ : لِمَ تَدْفَعُنِيْ ؟ فَقُلْتُ : اَلَّا تَقُوْلُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! فَقَالَ الْيَهُوْدِيُّ : اِنَّمَا نَدْعُوْهُ بِاسْمِهِ الَّذِیْ سَمَّاهُ بِهٖ اَهْلُهٗ- الحديث)

(صحيح مسلم ۱٤٦/۱) كتاب الحيض باب بيان صفة منى الرجل والمرأة وان الولد مخلوق من مائيهما)

(ثوبان رضي الله عنه فرمائی : زهٔ د رسول الله ﷺ سره ولاړ اُوم پدې کښې د یهودیانو د ملایانو نه یو مُلا راغې وې وئیل: (السلام علیك یا محمد) نو ثوبان رضي الله عنه فرمائی: ما دیکه کړو په داسې دیکې سره چه نزدې وه چه غورځیدلې وې د هغې نه نو دې یهودی اُووئیل چه ولې ما دیکه کوې؟ نو ما ورته اُووئیل چه یارسول الله ولې نهٔ وائې چه یا محمد وائې، نو یهودی اُووئیل چه مونږ یهود ورته هغهٔ نوم اخلو کوم

چه ورله مور او پلار ایخودلے دے - حدیث اوږد دے ماترے بعضِ ټکړه راواخسته د خپل مقصد دپاره۔

ددے حدیث **فوائد** او مسئلے په سوچ سره اُوګوره :

۱- **اوله** : دا مسئله معلومه شوه چه په یا محمد دومره خفگان پکار دے لکه د صحابه کرامؓ په شان چه هغوی به پدے کلمه دومره غصه کیدل چه سرے به ئے پدے کلمه قبیحه دومره دَرباوه چه په زمکه به ئے راویشتو۔

۲- **دویمه** ترے دا معلومه شوه چه دا خبره په صحابه کرامؓ کښ مشهوره ده چه «یامحمد» وئیل جائز نهٔ دی ځکه ثوبان ؓ یهودی ته دا تعلیم ورکړو۔

۳- **دریمه** ترے دا معلومه شوه چه ثوبان ؓ د رسول الله ﷺ په مخ کښ ددے کلمے قبیحے نه منع اُوکړه او رسول الله ﷺ ثوبان ؓ ته هیڅ قسم زورنه ورنکړه سره ددے چه ثوبان ؓ سختے اُوکړه ددے کافر سره، نو دا عظیم دلیل شو پدے خبره چه دا د دین لویه مسئله ده چه څوك الفاظ استعمالوی نو د هغهٔ سره دا عمل پکار دے۔

٤- خلورمه ترے دا ښکاره معلومه شوه چه د «محمد» لفظ استعمالول د یهودو کار دے، دلیل پرے دا

لفظ دے (اِنَّمَا نَدْعُوْهُ بِاسْمِهِ الَّذِیْ سَمَّاهُ بِهٖ اَهْلُهٗ) چه زمونږ یهودو دا طریقه ده چه دے نبی ته به مونږ په خپل نوم آواز کوو نو اُوس سوچ اُوکړه چه د یهودو د اعمالو او اخلاقونه مونږ او تاسو رسول الله ﷺ نهٔ یو منع کړی ؟ولے نهٔ، (لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ کَانَ قَبْلَکُمْ حَذْوَ النَّعْلِ بِالنَّعْلِ) (اخرجه البخاری والترمذی، مشکوة ۱/۳۰)

تاسو به د یهودو او نصارىٰ د طریقو تابعداری شروع کړی او د هغوی سره به برابر شی لکه یوه چپړه چه د بلے چپړے سره برابریږی، دا فرمان د رسول الله ﷺ صادق او رشتینی دے، چه دے امت په هرڅه کښ د یهودو اتباع اُوکړه تردے چه بے ادبی کښ هم اُوکړه، او د خپل نبی نوم ئے واخستو چه د هغے نه منع راغلے ده۔ والله المستعان۔

دا حدیث په بل سند سره په مسند ابوعوانه (۱/۲۹۳) کښ هم اُوګوره په مذکوره الفاظو باندے۔ د ثوبان ؓ نه نقل شوے دے۔

0000000

- **دویم حدیث**:

ـه هغـه مـخکښ په دویم دلیل د قرآن کښ ذکر شوے
شارةً اوس تفصیل د هغے واوره ! ـ
الَ الْإِمَامُ اَحْمَدُ حَدَّثَنَا عُثْمَانُ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا
ى بْنُ عُقْبَةَ عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنِ الْاَقْرَعِ بْنِ
سٍ اَنَّهُ نَادَى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ يَا مُحَمَّدُ وَفِيْ
يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمْ يُجِبْهُ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ حَمْدِيْ لَزَيْنٌ
مِّيْ لَشَيْنٌ فَقَالَ ذٰلِكَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ).

سند احمد ج٦/٣٩٤/ و٣/٤٨٨) ورواه الترمذي
سراً (١٦٢/٢) كذا في تفسير ابن كثير (٢٠٨/٢)

ـرع بن حابس ؓ رسول الله ﷺ تـه آواز اوکړو په
حمد، یا محمد» سره، او په روایت د ترمذی کښ دی :
ول الله»، او رسول الله ﷺ په حجره کښ وو او هرکله
هر راغے نو دے سری ورته اُووئیل چه زۀ د چا صفت
، ښائسته کیږی او چه د چا بدی بیان کړم هغۀ بد
کیږی، رسول الله ﷺ اُوفرمایل : دا صفت والا ذات
عزوجل دے)، او دا صحیح حدیث دے۔

صحیح الترمذی للالبانیؒ (١٠٧/٣)

نو الله پاك دا آیت نازل کړو چه کوم کسان رسول الله ﷺ ته په «یامحمد» سره یا په «یارسول الله» سره غائبانه چغے وهی، هغۀ بے عقله او جاهلان دی، ددے حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چه «یامحمد» خو بے ادبی ده کۀ رسول الله ﷺ حاضر وی او کۀ په پرده کښ وی۔

«یارسول الله» وئیل هم ناروا دی کۀ رسول الله ﷺ غائب وی او اخوا د دیوال وغیره نه وی یعنی چه انسان هغۀ ته چغے وهی او کۀ مخامخ ورته یا نبی الله، یا رسول الله" په ادب او آرام سره اُووائی نو جائز ده بلکه مامور بهٖ ده۔

٣- **دریم دلیل** : حدیث د تشهد دے چه هغۀ د ابن مسعود ؓ نه نقل شوے دے، پدے طریقه :

(عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ التَّشَهُّدَ كَفِّيْ بَيْنَ كَفَّيْهِ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ الخ

(اخرجه الامام احمد في مسنده ٤١٤/١ بهذا اللفظ والبخاري ١٧٦/٤) ومسلم (١٤/٢) وابن ابي شيبة في المصنف (١١٤/١)۔

عبد الله بن مسعودرضي الله عنه فرمائی: چه رسول الله ﷺ ما ته تشهد یعنی التحیات لله داسے را اُوخودله لکه یو سورة د قرآن کریم چه به ئے څرنګ راخودلو یعنی ډیر اهتمام سره ئے راته دا تعلیم راکړو چه داسے اُووایه «التحیات لله والصلوة والطیبات السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته» تر آخره۔

دا حدیث په مسند ابی عوانه کښ (۲/۲۲۸، ۲۲۹ او بخاری ۱/٤۷) اودغه شان په السنن الکبریٰ للبیهقی (۲/۱۳۸) کښ هم دے۔

لیکن دا الفاظ ورسره په صحیح سندونو سره زیات کړے شوی دی، (وَهُوَ بَيْنَ اَظْهُرِنَا فَلَمَّا قُبِضَ قُلْنَا اَلسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ) (یعنی مونږ به داسے الفاظ وئیل په تشهد کښ السلام علیك ایها النبی کله چه رسول الله ﷺ ژوندے وو او کله چه وفات شو نو مونږ صحابه کرامؓ به په تشهد کښ داسے وئیل: (السلام علی النبی) یعنی خطاب به مو رسول الله ﷺ ته نهٔ کولو، او دا خبره ښکاره ده چه صحابه کرامؓ د ځان نه دین نهٔ دے جوړ کړے بلکه دا خبره به هغوی ضرور د رسول الله ﷺ نه اَوریدلی وی۔

او په دے خبره دویم قوی دلیل هغه المصنف لعبد الرزاق (۲/۲۰٤) راوړیدے، دارنګه کنز العمال ذکر کړیدے (٤/٤٦٦٨) : قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ اَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ اَخْبَرَنِیْ عَطَاءٌ اَنَّ الصَّحَابَةَ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ وَالنَّبِیُّ ﷺ حَیٌّ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِیُّ فَلَمَّا مَاتَ قَالُوْا اَلسَّلَامُ عَلَى النَّبِیِّ).

وهذا اسناد صحیح صححه الحافظ ابن حجر فی فتح الباری (۲/۳۱٤) وغیره.

(عطاء رحمه الله فرمائی: صحابه کرامؓ به «السلام علیك ایها النبی» د رسول الله ﷺ په ژوند کښ وئیلو او کله چه هغهٔ وفات شو نو هغوی به داسے الفاظ فرمایل: «السلام علی النبی») .

او دا د ټولو صحابه کرامؓ عمل او ګویا کښ د ټولو صحابو دا احساس وو چه ددے لفظ نه څوك غلطه فائده وانخلی، لکه ددے زمانے جاهلان د هرے کرخے نه استدلالات کوی صحیح او غلط دلیل نهٔ ګوری خو کتاب ترے ډك کوی۔

دارنګه امام مالك په الموطأ (۱/۷۳) کښ د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل کړی دی چه هغه به داسے الفاظ لوستل:

(اَنَّـهٗ كَـانَ يَتَشَهَّـدُ فَيَـقُـوْلُ اَلسَّلَامُ عَـلَى النَّبِيِّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ) باسناد صحيح على شرط الشيخين)

دارنګه المصنف لعبد الرزاق کښې د ابن الزبير او د ابن عباس روايت هم اوګوره (۲/ ۲۰۳) چه هغوی به هم داسے الفاظ لوستل : السلام على النبى ورحمة الله وبركاته الخ۔

دا روايت د طحاوی په کتاب معانی الآثار کښې هم اُوګوره (۱/ ۱۸۰) ليکن مختصر دے۔

دارنګه اُوګوره روايت د عائشه رضی الله عنها په المصنف لابن ابی شيبة (۱/ ۱۱۵) او په مسند السراج (۲/۱/۹) او الملخص فی الفوائد (۱۱/ ۵۵) بسندين صحيحين عَنْ عَائِشَةَ اَنَّهَا كَانَتْ تُعَلِّمُهُمُ التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ اَلسَّلَامُ عَلَى النَّبِيِّ)

عائشے رضی الله عنها به دا قسم تشهد شاګردانو او تابعينو ته خودلو «السلام على النبى»۔

(وَلَاشَكَّ اَنَّ عُدُوْلَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ مِنْ لَفْظِ الْخِطَابِ عَلَيْكَ اِلَى لَفْظِ الْغَيْبَةِ (عَلَى النَّبِيِّ) اِنَّمَا بِتَوْقِيْفٍ مِنَ النَّبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَامُ لِاَنَّهٗ اَمْرٌ تَعَبُّدِيٌّ لَا مَجَالَ لِلرَّأْيِ وَالْاِجْتِهَادِ فِيْهِ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ كَذَا ذَكَرَ هٰذِهِ الْفَوَائِدَ مَعَ شَيْءٍ يَسِيْرٍ مِنَّا الْعَلَّامَة

المحقق الالبانی فی کتابه القيم ارواء الغليل ۲/ ۲۷) رقم الحديث (۳۲۱) وکذا فی صفة الصلوة له ص (۱۷۱).

حاصل دا دے چه په تشهد کښې دوه قسمه الفاظ نقل دی په صحيح رواياتو کښې اول : (السلام عليك ايها النبى) او دويم (السلام على النبى) ليکن دا الفاظ پس د وفات د رسول الله ﷺ نه صحابه کرامو ذکر کول، ددے دويم روايت فائده خو معلومه ده چه صحابه کرامو د شرك د بندولو دپاره حتى الوسع کوشش کولو او د عوام الناس د اَوهامو د ختمولو دپاره ئے الفاظ موهمه ختمول۔

بله دا چه هغوی غائب ته آواز نهٔ کولو په «يارسول الله» او نهٔ په «يامحمد» سره او هرچه اول روايت دے نو هغهٔ هم صحيح دے ليکن دا استدلال ترے کول چه غائب ته آواز کول جائز دے، غلط استدلال دے۔

اُوګوره (فضل الله الصمد فی توضيح الادب المفرد ۲/ ۴۵۲/ ۴۵۵).

هغه داسے جواب کړيدے چه دا امر تعبدی دے لکه څنګه چه مونږ په قرآن کښې يا فرعون او يا هامان وايو نو زمونږ خطاب مقصود نهٔ دے بلکه د الله تعالیٰ حکم دے نو

ځکه ئے مونږ استعمالوو۔ دویم دا چه دا خطاب حکائی دے حکایت دے د نبی ﷺ د وینا نه چه هغه داسے وئیلی دی نو مونږه ئے هم دغسے وایو او خطاب پکښ مقصود نهٔ دے۔ دریم دا چه دا د نبی ﷺ پورے خاص دے۔ پدے کښ قیاس نهٔ جاری کیږی۔ لکه دا خبره حافظ ابن حجر په فتح الباری (۱۱/۴۸) کښ ثابته کړیده۔

کما حقق ذلك فضل الله فی شرح الادب المفرد (۲/۴۵۲) وکذلك فی البراهین القاطعة (۲۲۰) لخلیل احمد السهارنفوری)

دارنګه ملا علی القاریؒ فرمائی:

وَبِهٖ يَظْهَرُ وَجْهُ الْخِطَابِ وَاَنَّهٗ عَلٰى حِكَايَةِ مِعْرَاجِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِيْ آخِرِ الصَّلَاةِ الَّتِيْ هِيَ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِنِيْنَ.

(المرقاة شرح مشکوة ۲/۳۳۱)

(یعنی په (ایها النبی) کښ د خطاب وجه دا ښکاره شوه چه دا حکایت دے د واقعے د معراج نه چه الله تعالیٰ په نبی ﷺ باندے (السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته) سلام وا چولو نو نبی ﷺ ورسره السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین زیات کړو نو دا د معراج د واقعے نه رانقل شو

او په مانځه کښ وینا ئے په مسلمانانو باندے لازم شوه ځکه چه مونځ هم د مؤمنانو معراج دے)۔

نو ملا علی قاری رحمه الله هم ددے شبهے جواب فرمائیلے دے چه دا خطاب مونږ او تاسو نهٔ کوو بلکه دا د الله تعالیٰ خطاب دے چه خپل نبی ته ئے کړیدے او مونږ ئے د عبادت په طور رانقل کوو۔

OOOOOOO

صحيح عقلي دلائل
او د محققينو علماؤ اقوال

(١) - اول قانون او دليل واوره ! محدثينو فرمايلي دي چه «يا محمد» آواز كول چرته صحيح حديث كښ نقل نه شته او كومو رواياتو كښ چه «يامحمد» راغلي دے هغۀ به يا قول د يهودي وي لكه دا مخكښ بيان شوي دي او يا به قول د منافق وي لكه ذو الخويصرة التميمي چه «يامحمد» وئيلي وو.

كما في المشكوة (١/٣٠٨) ومسلم (٣٤٠) والنسائي.

او يا به الله پاك خپل نبي ته په حديث كښ «يامحمد» وئيلي وي، كما في حديث الترمذي والمشكوة (١/٧٠) عن ابن عباس ومعاذ وايضاً مشكوة (٤٨٩/٢)

او يا به كوم ملائك وئيلي وي كما في حديث جبريل في بعض روايات النسائي (٢) او يا به جاهلانو بانډيچيانو دا لفظ وئيلي وي كما في حديث انس عند الشيخين.

(مشكوة ٥١٨/٢).

صحابه كرامو نه ځوك صحيح نقل نشي پيش كولے، او ملا علي قاريؒ وائي كوم چه د صحابه كرامو نه نقل دي نو هغۀ قبل التحريم وو.

اُوګوره مرقات (١/٥١) حديث جبرئيل.

نو كوم كس چه دا الفاظ وائي نو هغه يا يهودي يا منافق يا جاهل دے يا به ځان ته ملائك وائي يا به ځان ته الله وائي (العياذ بالله). د ملا علي قاريؒ عبارت دا دے او د هغه فائده واوره او دا مخكښې قاعده هم هغه صراحةً ذكر كريده.

دارنګه البراهين القاطعة (٢٠/) او انجاح الحاجة هم راوړے ده (١/٧): (قَوْلُهُ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ : قِيلَ نَادَاهُ بِاسْمِهِ إِذِ الْحُرْمَةُ تَخْتَصُّ بِالْأُمَّةِ فِي زَمَانِهِ أَوْ مُطْلَقاً وَهُوَ مَلَكٌ مُعَلِّمٌ وَيُؤَيِّدُهُ قَوْلُهُ تَعَالَى لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا لِلآدَمِينَ فَلَا يَشْمُلُ الْمَلَائِكَةَ إِلَّا بِدَلِيلٍ وَأَمَّا مَا وَرَدَ فِي بَعْضِ الصِّحَاحِ مِنْ نِدَاءِ بَعْضِ الصَّحَابَةِ بِاسْمِهِ فَذٰلِكَ قَبْلَ التَّحْرِيمِ الخ)

(يعني دا قول د جبريل چه يا محمد. وئيلے شويدي چه

بی ﷺ ته ئے په نوم آواز اُوکړو ځکه چه حرام والے ددے
واز د هغه په زمانه کښ یا مطلقاً د امت پورے خاص دے
و هرچه جبریل دے نو هغه خو ملائك دے او ددے تائید دا
ے چه الله تعالیٰ بندګان منع کړیدی چه دے نبی ته داسے
آواز مه کوئ ځنګه چه تاسو یو بل ته آوازونه کوئ نو دا
حکم ملائکو ته شامل نهٔ دے مګر په دلیل سره (او دلیل
خو نهٔ دے موجود) او د بعض صحابه کرامو نه چه په نوم
سره آواز راغلے دے نو هغه د حراموالی نه مخکښ زمانه
کښ وو) انتهیٰ الترجمة۔

دے عبارت نه دا فائده معلومه شوه چه «یامحمد» وئیل
دا په ابتداء د اسلام کښ جائز وو اُوس حرام شوی دی دا د
ملاعلی قاری حنفی قول دے چه دا جاهلان په ملا علی
قاری ډیرے حوالے ورکوی او حالانکه دا حقه مسئله دهغه
نهٔ منی۔

دویم دلیل دا دے :

چه کوم شخص چا ته آواز کوی او داسے ورته اُووائی چه
اے فلانکی، اے فلانکی ! او روسته خبره نهٔ ذکر کوی نو
هغهٔ به خومره خفه شی چه ته زما بے ادبی کوے او څه راته

نهٔ پیش کوے نو څوك چه «یامحمد» «یامحمد» وائی نو هغهٔ د رسول الله ﷺ ډیر سخت بی ادبی کونکی دی، او کهٔ یو سړے وائی چه زهٔ د محمد ﷺ نه مدد غواړم پس د وفات د هغهٔ نه نو دا په اتفاق د مسلمانانو سره مشرك دے، په دے خبره آیتونه او احادیث واوره :

١ – الله تعالیٰ فرمائی: ﴿ وَلَا تَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَاِنْ فَعَلْتَ فَاِنَّكَ اِذاً مِّنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ (یونس١٠٦)

(مهٔ رابله سویٰ د الله نه هغهٔ څوك چه نهٔ فائده درکوی او نهٔ څهٔ ضرر، او کهٔ مخلوق ته دِے آواز اوکړو نو تهٔ به دغه وخت کښ د ظالمانو نه شے)

نو هر قسم مخلوق ته آواز کول ظلم دے کله چه ظاهری اسباب ورسره نهٔ وی۔

٢ – الله فرمائی: ﴿ وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنْ يَدْعُوْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لَهٗ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَائِهِمْ غَافِلُوْنَ ﴾ (سورة الاحقاف آیت پاره٢٦)۔

(څوك لوئی ګمراه دے د هغهٔ چا نه چه رابلی سویٰ د الله نه هغهٔ چا لره چه هیڅ دعاء ورله نهٔ شی قبلولے او نهٔ ورسره

مدد کولے شی) «من دون الله» لفظ عام دے، رسول الله ﷺ، ملائك، نیکان او بدانو ټولو ته شامل دے، سوچ اُوکړه !۔

۳- الله تعالیٰ فرمائی: ﴿قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدَانَا اللّٰهُ﴾

(سورة الانعام آیت ۷۰)

(اُووایه اے نبی ! آیا مونږ راوبلو سویٰ د الله نه هغهٔ څوك چه نهٔ فائده راکولے شی او نهٔ ضرر او مرتد شو (کهٔ دا کار مو اُوکړو) پس د هغے نه چه الله راته هدایت کړے دے)

دے آیت نه معلومه شوه چه سویٰ د الله نه بل چا ته په غیر د څهٔ ظاهری سبب نه آواز کول د مرتدانو او کافرو کار دے، قرآن کریم دا خبره کړیده۔ زهٔ ئے د ځان نه نهٔ کوم۔

٤- بل آیت اُوګوره

﴿اِنْ تَدْعُوْهُمْ لَا يَسْمَعُوْا دُعَآئَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوْا مَا اسْتَجَابُوْا لَكُمْ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُوْنَ بِشِرْكِكُمْ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيْرٍ﴾

(سورة الفاطر پ۲۲)

(الله تعالیٰ فرمائی: که چرته دے مخلوق نه تهٔ اُوغواړے نو اول ستا خبره نهٔ اَوری، او کهٔ بالفرض وائے وری نو ستا

دعاء نشی قبلولے (حاجت نشی پوره کولے) او قیامت کښې به ستاسو ددے شرك نه انکار کوی)

دے آیت نه معلومه شوه چه نبی ﷺ یا بل ولی الله ته آواز کول د استغاثے او مدد دپاره شرك دے۔ دارنګه نور آیتونه ډیر زیات دی، قرآن کریم لوئی دلیل دے، لیکن ددے جاهلانو په نزد د کتابچو حوالے او د شروح او حواشی حوالے د قرآن نه هم زیاتے معتبرے دی۔ والله المستعان۔

دارنګه اُوګوره حدیث د سیدنا عبد الله بن عباس رضی الله عنهما چه په هغے کښې دا دی :

(اِذَا سَأَلْتَ فَاسْئَلِ اللّٰهَ وَاِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ الحدیث)

(ترمذی ۷۸/۲) وقال حدیث حسن صحیح انظر ریاض الصالحین ص (٦٥) رقم (٦٣) وصحیح الترمذی للالبانی ۳۰۸/۲) مشکوة (٤٥٣/۲) رقم الحدیث (۵۳۰۲)

(عبد الله بن عباسؓ فرمائی : زهٔ د رسول الله ﷺ سره یو ځل په سورلئ سور وم، نو رسول الله ﷺ راته څهٔ وصیتونه اُوکړل چه یو وصیت دا وو چه سوال کوے نو د الله پاك نه سوال کوهٔ ! او چه مدد غواړے نو صرف د الله نه

مدد غواړه)

دا د رسول الله ﷺ تعليم دے چه آواز د حاجت غوختلو دپاره صرف الله ته كوه او مدد هم د هغهٔ نه غواړه، او دا تعليم به ځكه وركوی چه رسول الله ﷺ الله پاك په توحيد او ايمان راليږلے دے :

لِيُخْرِجَ الْعِبَادَ مِنْ عِبَادَةِ الْعِبَادِ اِلٰى عِبَادَةِ رَبِّ الْعِبَادِ.
(كما فى حياة الصحابة)

(چه بندګان د مخلوق د عبادت نه راوباسی او د خالق عبادت والا جوړ شی)

نو دا معلومه شوه چه «يارسول الله» ، او «يامحمد» وئيل د مدد غوختلو دپاره شرك دے او كهٔ يو سړے وائی چه زهٔ «يامحمد» شوقاً ذوقاً وايم لكه بعض جاهلان مفتيان دا قسم فتوے وركوی نو مونږ وايو چه ددے مثال خو به داسے شی لكه پښتانه وائی : «د خرهٔ مينه لغته وی»

نو ستاسو شوق دا دے چه د الله د عظيم حكم نه خلاف اُوكړئ چه الله فرمائی: «يامحمد» مهٔ وايئ لكه دا خبره مخكښ مفصله بيان شوه نو «يامحمد» د جاهلانو وينا

ده.

٣- دريم دليل :

دا دے چه هغهٔ كسان چه دا مسئله د «يامحمد، يارسول الله» ثابته وی يا غائب ته آواز كول ثابتوی نو دده مقصد څهٔ دے ؟ ددے مسئلے نتيجه څهٔ ده؟

هغهٔ دا ده چه د خلقو به د الله د ذات نه يقين كټ شی او په مخلوق به ئے يقين پيدا شی چه دوی مالكان د نفع او ضرر دی او دا ثابتول د شرك ثابتول دی نو عاقبت به دا شی چه ډير خلق به ګمراه شی.

پس د علماؤ د كتابونه اُوګوره چه په هغے كښ د «يارسول الله» او د «يامحمد» او غائب ته آواز كول رد وی.

١-اُوګوره البراهين القاطعة فى الرد على الانوار الساطعة لخليل احمد محدث سهارنپور تفصيلاً ص (٢٢٠/٢٢٨) سره د جوابونو د دلائلو د دوی نه.

٢- دارنګه محدث رشيد احمد ګنګوهی خپله فتاوی رشيديه (١/ ٦٢) كښ ليكلی دی :

سوال : يارسول الله" دور سے يا نزديک قبر شريف سے پکارنا جائز ہے يا نہیں؟

جواب : جب انبیاء علیہم الصلاۃ والسلام کو علم غیب نہیں تو یارسول اللہ" کہنا بھی ناجائز ہوگا، اگر یہ عقیدہ کر کے کہیں کہ وہ دور سے سنتے ہیں بسبب علم غیب کے تو خود کفر ہے اور جب یہ عقیدہ نہیں تو کفر نہیں مگر کلمۂ کفر مشابہ بکفر ہے الخ۔

د عبارت مطلب دا دے چه یارسول الله ﷺ وئیل پدے عقیده چه هغهٔ عالم الغیب دے نو دا سرے کافر دے او کهٔ دا عقیده نهٔ ساتی نو کلمه مشابه بالکفرئے اُووئیله۔

۳- دارنګه اُوګوره انجاح الحاجة علی هامش ابن ماجه للشیخ عبد الغنی المجدد الدهلوی ثم المدنی (۷/۱) حاشیه (۸) فی حدیث جبرئیل :

قَوْلُهٗ یَا مُحَمَّدُ : لَعَلَّ هٰذَا نَقْلٌ بِالْمَعْنٰی فَاِنَّ النِّدَاءَ بِیَامُحَمَّدُ لَایَجُوْزُ لَهٗ عَلَیْهِ السَّلَامُ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی : لَاتَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بَیْنَکُمْ کَدُعَاءِ بَعْضِکُمْ بَعْضًا، وَقِیْلَ الْخِطَابُ اَیْ خِطَابُ اللّٰهِ مَخْصُوْصٌ بِبَنِیْ آدَمَ لَا بِالْمَلَائِکَةِ وَکَانَ نُزُوْلُ جِبْرِیْلَ لِتَعْلِیْمِ الْاُمَّةِ فَیُنَاسِبُ اَنْ یُنَادِیَ بِمَا یَجُوْزُ لَهَا الخ وَیُؤَیِّدُ الْاَوَّلَ الْحَدِیْثُ الْآتِیْ فَاِنَّ فِیْهِ النِّدَاءَ بِیَارَسُوْلَ اللّٰهِ.

(مطلب دا دے چه «یامحمد» وئیل نهٔ دی جائز او کوم حدیث د جبرئیل کښې چه راغلی دی چه جبرئیل «یامحمد» اُووئیلو نو صحیح دا ده چه هغه روایت

بالمعنیٰ دے یعنی جبرئیل اصل کښې یارسول الله وئیلی دی او راویانو بدل کړے په «یارسول الله» سره دلیل پرے دویم حدیث دے په ابن ماجه کښې۔

٤- دارنګه فتوی دا مام نوویؒ شارح مسلم ده۔

(قَوْلُهٗ یَامُحَمَّدُ : قَالَ الْعُلَمَاءُ لَعَلَّ هٰذَا کَانَ قَبْلَ النَّهْیِ عَنْ مُخَاطَبَةِ النَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ بِاسْمِهٖ قَبْلَ نُزُوْلِ قَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی : لَا تَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بَیْنَکُمْ الآیة، عَلٰی اَحَدِ التَّفْسِیْرَیْنِ اَیْ لَاتَقُوْلُوْا یَامُحَمَّدُ بَلْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَیَا نَبِیَّ اللّٰهِ وَیَحْتَمِلُ اَنْ یَّکُوْنَ بَعْدَ نُزُوْلِ الآیَةِ وَلَمْ تَبْلُغِ الآیَة هٰذَا الْقَائِلَ) (شرح مسلم ۱/ ۳۰)۔

(ټولو علماؤ وئیلی دی چه دا «یامحمد» مخکښې د منع نه وئیل شوے دے، او یا دا چه دے بعض کسانو ته دا آیت نهٔ وو رسیدلے۔ مطلب دا چه «یامحمد» منع دے په نزد د ټولو مسلمانانو۔

۵- دارنګه اُوګوره احسن الفتاوی د شیخ رشید احمدؒ (۱/ ۳٦٤):

(مروجہ صلاۃ وسلام مثل یارسول اللہ یا حبیب اللہ بدعات کے مجموعہ ہے

صيلاً)۔

مطلب دا شو چه الصلاة والسلام عليك يارسول الله او
ا حبيب الله وئيل په اُوچت آواز سره مخکښې د اذان نه يا
وستو دا مجموعه د بدعاتو منکراتو ده۔

دے باره کښې ملاعلی القاری په مرقات (٢/١٦١) کښې
يکی: (فَمَا يَفْعَلُهُ الْمُؤَذِّنُوْنَ الآنَ عَقِبَ الْاَذَانِ مِنَ الْإِعْلَان
الصَّلَاةِ وَالسَّلَامِ مِرَاراً اَصْلُهٗ سُنَّةٌ وَالْكَيْفِيَّةُ بِدْعَةٌ لِاَنَّ رَفْعَ
صَّوْتِ فِی الْمَسْجِدِ وَلَوْ بِالذِّكْرِ فِيْهِ كَرَاهِيَّةٌ وَقَالَ فِی
١٧١/١) : بِاَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ فِی الْمَسْجِدِ وَلَوْ بِالذِّكْرِ
رَامٌ) ۔

o- ملاعلی قاریؒ فرمائی:

«یارسول الله» او «یاحبیب الله» د اذان نه روستو په
چت آواز سره وئیل بدعت دے بلکه سنت دا ده چه اللهم
سل على محمد الخ به هر شخص ځان سره پټ وائی
کله چه جهر سره ذکر په مساجدو کښې حرام دے۔

o- فتح المجید (١/١٦٥) کښې دی:

(قَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ : اِنَّهٗ لَا يُسْتَغَاثُ بِیْ وَاِنَّمَا يُسْتَغَاثُ بِاللّٰهِ)
الطبرانی عن عبادة بن الصامت).

البريلوية د شيخ احسان الهی ظهير ص (٩/٨) هم
اُوکوره۔

(استغاثه په نبی سره حرام ده، استغاثه به صرف په الله
سره کولے شی)

شيخ الاسلام ابن تيميةؒ عالم علماء الاعلام په خپله
فتاوی (١/٣٥٩) و (٢٧/٨١) کښې په مختلف مواضعو
کښې ليکی:

(وَمِنْ اَعْظَمِ الشِّرْكِ اَنْ يَّسْتَغِيْثَ الرَّجُلُ بِمَيِّتٍ اَوْ غَائِبٍ
كَمَا ذَكَرَهُ السَّائِلُ وَيَسْتَغِيْثُ بِهٖ عِنْدَ الْمَصَائِبِ يَقُوْلُ يَا سَيِّدِیْ
فُلَانٌ كَاَنْ يَّطْلُبَ مِنْهُ اِزَالَةَ ضُرِّهٖ اَوْ جَلْبَ نَفْعِهٖ، وَهٰذَا حَالُ
النَّصَارٰى فِی الْمَسِيْحِ وَاَحْبَارِهِمْ وَرُهْبَانِهِمْ وَمَعْلُوْمٌ اَنَّ خَيْرَ
الْخَلْقِ وَاَكْرَمَهُمْ عَلَى اللّٰهِ نَبِيُّنَا مُحَمَّدٌ ﷺ وَاَعْلَمَ النَّاسِ بِقَدْرِهٖ
وَحَقِّهٖ اَصْحَابُهٗ وَلَمْ يَكُوْنُوْا يَفْعَلُوْنَ شَيْئاً مِنْ ذٰلِكَ لَا فِیْ مَغِيْبِهٖ
وَلَا بَعْدَ مَمَاتِهٖ الخ).

(فرمائی: لوئی شرك دا دے چه سړے مړی ته يا غائب ته
آواز اُوکړی د مصيبت په وخت چه اے سيدی فلان مثلاً
يارسول الله يا محمد، يا بابا، يا شيخ عبد القادر جيلانی يا
سيد على هجويری دا قسم الفاظ استعمالول د مشرکانو

ل دے او دا د عیسایانو (نصاراؤ) طریقه ده او دا معلومه
چه صحابه کرامؓ ډیر ښهٔ پیژندونکی وو د رسول الله ﷺ
ر او حقونو لره او هغوی رسول الله ﷺ ته پس د مرګ
ا قسم آوازونه نهٔ دی کړی)۔

دا د شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ د عبارت حاصل دے، اګرکه
ـا هلان شیخ الاسلام نهٔ منی او غلط نسبتونه ورته
ی خلاف کوی د دے قول د الله تعالیٰ نه :

﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾

و دوی ورته ځکه بد ګوری چه د دوی زړونه ئے سیزلی
او د دوی په ګمراهئ ئے پوره رد کړے او ګمراهی ئے ورله
ضحه کړے ده۔

٤– خلورم دلیل :

دا دے چه «یارسول الله» «یامحمد» وئیل به یا دین کښ
او ددے وئیل به ثواب لری او یا به ثواب نهٔ لری، مکروه
بدعت به وی، کهٔ چرته دین وی او ثواب لری نو تاسو دلیل
ش کړئ د قرآن او سنت نه ځکه هر عبادت لپاره اصل وی
دین کښ نو راوړئ یو دلیل که تاسو رشتینی یئ او یا به
عت او مکروه وی او د بدعت نه ځان ساتل فرض دی۔

شیخ سرفراز خان صاحب په «اخفاء الذکر» کښ لیکی (ہاں اگر کوئی شخص یارسول اللہ کے الفاظ سے آنحضرت ﷺ کو حاضر ناظر سمجھ کر یہ پڑھے یا آپ سے مدد مانگے تو البتہ ناجائز ہے)

مفتی الدیار السعودیة علامه عبد العزیز بن عبد الله بن باز په څهٔ اشعارو رد کوی چه هغهٔ د کویت نه په یوه مجله کښ شائع شوی وو۔

يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَدْرِكْ عَالِمًا يَشْعَلُ الْحَرْبَ وَيُعْلِي مِنْ لَظَاهَا
يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَدْرِكْ اُمَّةً فِيْ ظَلَامِ الشَّكِّ قَدْ طَالَ سَرَاهَا
يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَدْرِكْ اُمَّةً الخ ۔

نو شیخ ابن باز پرے داسے رد کوی :

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ! هٰكَذَا وَجَّهَتْ هٰذِهِ الْكَاتِبَةُ نِدَائَهَا وَاسْتِغَاثَتَهَا اِلَى الرَّسُوْلِ ﷺ طَالِبَةً مِنْهُ اِدْرَاكَ الْاُمَّةِ بِتَعْجِيْلِ النَّصْرِ نَاسِيَةً اَوْ جَاهِلَةً اَنَّ النَّصْرَ بِيَدِ اللّٰهِ وَحْدَهٗ لَيْسَ ذٰلِكَ بِيَدِ النَّبِيِّ ﷺ وَلَا غَيْرِهٖ مِنَ الْمَخْلُوْقَاتِ كَمَا قَالَ اللّٰهُ سُبْحَانَهٗ فِيْ كِتَابِهِ الْمُبِيْنِ : وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ الآية)

(الله اکبر ! (تعجب دے) دے کاتبے خپل آواز او فریاد پیغمبر ته متوجه کړیدے او د هغه نه غواړی چه امت ته په جلتئ سره مدد ورکړی، نو دا یا ددے خبرے نه جاهله ده

ا ترے هیره شوے ده چه مدد خو صرف او صرف د الله په
لاس کښې دے، دا د نبی علیه السلام او د نورو مخلوقاتو په
لاس کښې نهٔ شته لکه څنګه چه الله په خپل کتاب مبین
کښې فرمائی : (او نهٔ دے مدد مګر صرف او صرف د الله
غالب حکمتونو والا نه دے) آه۔

بیا هغه ډیر آیاتونه او احادیث ذکر کړی دی چه د هغے
نه تقریباً یوه رساله جوړیږی چه هغه په کتاب (اِقَامَةُ
الْبَرَاهِيْنِ عَلٰى حُكْمِ مَنِ اسْتَغَاثَ بِغَيْرِ اللّٰهِ اَوْ صَدَّقَ الْكَهَنَةَ
الْعَرَّافِيْنَ وَالْمُشَعْوِذِيْن) کښې ذکر دی۔

ددے رسالے حاصل دا دے چه یارسول الله ته غائبانه چغه
هل لوئی شرك دے او دا فتوی د سعودی علماؤ ده۔

په اقامة البراهین (۳۷) کښې یوه بله فتویٰ :

(قَدْ جَاءَ كِتَابٌ مِنْ بَعْضِ الْاِخْوَةِ اِلٰى مُفْتِى الدِّيَارِ السَّعُوْدِيَّةِ
فِيْهِ : هَلْ يَجُوْزُ اَنْ يَّقُوْلَ الرَّجُلُ يَا اَقْطَابُ يَا اَغْوَاثُ يَا اَسْيَادُ
ا سَبْعَةَ خُذُوْهُ، يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَغِثْنَا وَاَمْثَالُ هٰذِهِ الْاَذْكَارِ الْخَبِيْثَةِ
وَهَلْ يَجُوْزُ الصَّلَاةُ خَلْفَ هٰؤُلَاءِ ؟

الجواب : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهٗ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ
لَا نَبِىَّ بَعْدَهٗ وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَمَنِ اهْتَدٰى بِهِمْ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ

اَمَّا بَعْدُ : فَاِنَّ اللّٰهَ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى خَلَقَ الْخَلْقَ لِيَعْبُدُوْهُ دُوْنَ
كُلِّ مَا سِوَاهُ وَلِيَخُصُّوْهُ بِالدُّعَاءِ وَالْاِسْتِغَاثَةِ وَالذَّبْحِ وَالنَّذْرِ
وَسَائِرِ الْعِبَادَاتِ وَقَدْ بَعَثَ الرُّسُلَ بِذٰلِكَ وَاَمَرَهُمْ بِهٖ وَبِذٰلِكَ
اَنْزَلَ اللّٰهُ الْكُتُبَ السَّمَاوِيَّةَ الَّتِىْ اَعْظَمُهَا الْقُرْآنُ الْكَرِيْمُ بِبَيَانِ
ذٰلِكَ وَالدَّعْوَةِ اِلَيْهِ وَتَحْذِيْرِ النَّاسِ مِنَ الشِّرْكِ بِاللّٰهِ وَعِبَادَةِ مَا
سِوَاهُ وَهٰذَا هُوَ اَصْلُ الْاُصُوْلِ وَاَسَاسُ الْمِلَّةِ وَالدِّيْنِ وَهُوَ مَعْنٰى
شَهَادَةِ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لِاَنَّ مَعْنَاهَا لَامَعْبُوْدَ بِحَقٍّ اِلَّا اللّٰهُ فَهِىَ
تَنْفِى الْاُلُوْهِيَّةَ وَهِىَ الْعِبَادَةُ عَنْ غَيْرِ اللّٰهِ وَتُثْبِتُ الْعِبَادَةَ لِلّٰهِ
وَحْدَهٗ دُوْنَ مَا سِوَاهُ مِنْ سَائِرِ الْمَخْلُوْقِ وَالْاَدِلَّةُ عَلٰى ذٰلِكَ
كَثِيْرَةٌ مِنَ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ ثُمَّ ذَكَرَهَا مُفَصَّلًا (من ۲۳)

(یو خط د بعض مسلمانانو نه د سعودی مفتی ته
راغلو په هغے کښې ئے دا سوال کړے و چه آیا دا جائز دی چه
یو سړے داسے اُووائی : اے اقطابو، اے اغواثو، اے سردارانو
اے اُووه اولیاؤ زما مدد اُوکړئ او اے رسول الله زما
فریادرسی اُوکړه۔ او دغه شانو ځوك چه دا وائی نو آیا د
هغوی پسے روستو مونځ کیږی او که نهٔ ؟ نو هغوی داسے
جواب ورکړو چه الله تعالیٰ ټول مخلوقات، ددے دپاره پیدا
کړیدے چه د خالص د الله تعالیٰ عبادت اُوکړی او صرف او

صرف د هغه نه دعاء اُغواړی او هغه ته فریاد اُوکړی او ذبح و نذر او منبنته صرف د هغه په نوم اُوکړی غرض هر قسم عبادت الله تعالیٰ دپاره خالص کړی او پدے کښں مخلوق د الله تعالیٰ سره شریك نکړی او الله تعالیٰ په همدے خبره رسولانو دنیا ته رالیږلی دی او هغوی ته ئے پدے باندے حکم فرمائیلے دے۔ او ددے مسئلے د بیان او د دعوت دپاره الله تعالیٰ آسمانی کتابونه نازل کړیدی چه په هغوی کښں لوئی کتاب قرآن کریم دے هغه د شرك کولو نه د الله تعالیٰ سره او عبادت د غیر الله نه خلق یرولی دی۔ او دا د ټولو مسائلو بنیادی مسئله ده او د دین اسلام بنیاد په همدے باندے دے او همدا مقصد د کلمے د توحید دے ځکه چه په کلمه کښں دوه جزئین دی یو جزء د غیر الله نه د عبادت نفی کوی او بل جزء کښں د الله تعالیٰ دپاره عبادت ثابتوی او پدے باندے د قرآن او حدیث نه بیشماره دلائل دی چه هغه ئے ذکر کړیدی۔ آه)

ددے **فتوے** حاصل دا دے چه عبادت د الله پاك پورے خاص دے هرقسم مخلوق چه وی هغوی ته غائبانه چغه وهل شرك دے، شرك څه ښکریے نهٔ لری همدغه شے دے۔

عبد الرحمن بن حسن بن الشیخ محمد بن عبد الوهابؒ په خپل کتاب «بیان المحجة فی الرد علی اللجة» کښں فرمائی :

قَالَ شَيْخُ الْاِسْلَامِ ابْنُ تَيْمِيَّةَ فِي الرَّدِّ عَلَى الْبِكْرِيِّ نَحْنُ نُطَالِبُ هٰؤُلَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّأْتُوْا بِالْاَدِلَّةِ عَلٰى اَنْ شَرَعَ لِخَلْقِهٖ اَنْ يَسْاَلُوْا مَيِّتاً اَوْ غَائِباً وَاَنْ يَّسْتَغِيْثُوْا بِهٖ سَوَاءً كَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ قَبْرِهٖ اَوْ لَمْ يَكُنْ عِنْدَ قَبْرِهٖ بَلْ نَقُوْلُ سُؤَالُ الْمَيِّتِ وَالْغَائِبِ نَبِيًّا كَانَ اَوْ غَيْرَ نَبِيٍّ مِنَ الْمُحَرَّمَاتِ الْمُنْكَرَةِ بِاتِّفَاقِ اَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ لَمْ يَأْمُرُ اللّٰهُ بِهٖ وَلَا رَسُوْلُهٗ وَلَا فَعَلَهٗ اَحَدٌ مِنَ الصَّحَابَةِ وَالتَّابِعِيْنَ لَهُمْ بِاِحْسَانٍ وَلَا اسْتَحَبَّهٗ اَحَدٌ مِنْ اَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ فَاِنَّ اَحَداً مِنْهُمْ مَا كَانَ يَقُوْلُ اِذَا اَنْزَلَهٗ بِهِمْ شِدَّةٌ اَوْ عَرَفَتْ لَهُمْ حَاجَةٌ لِمَيِّتٍ يَاسَيِّدِيْ فُلَانٌ اَنَا فِيْ حَسْبِكَ اَوِ اقْضِ حَاجَتِيْ كَمَا يَقُوْلُ بَعْضُ هٰؤُلَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ لِمَنْ يَدْعُوْنَهُمْ مِنَ الْمَوْتٰى وَالْغَائِبِيْنَ وَلَا اَحَدٌ مِنَ الصَّحَابَةِ اسْتَغَاثَ بِالنَّبِيِّ ﷺ بَعْدَ مَوْتِهٖ وَلَا بِغَيْرِهٖ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ الخ.

ددے عبارت حاصل دا دے چه ټول امت مسلمه پدے اتفاق دے چه غائب ته یا مړی ته آواز کول نبی وی او که غیر نبی وی حرام او ناروا دی او یو مسلمان دا قسم عمل نهٔ

دے کړے په صحابه کرامو او تابعین عظامو کښې نو اُوس
څوك چه د هغوی نه روستو یو عمل ایجاد کوی نو دا د
رسول الله ﷺ نـه ځان ښـۀ ګـنړی او د صحابـه کرامو او
تابعینو نه ځان اُوچت ګنړی۔ والله المستعان۔

دا یو څو دلائل ما په جلتئ سره د علماؤ د کتابونو نه
رانقل کړی وو، دے باره کښې ډیر دلائل دی چه هغۀ لوئی
لوئی علماؤ ته معلوم دی او د هغوی کتابونه ترے ډك دی،
خصوصاً د احادیثو کتابونه نو هغے ته رجوع پکار ده۔ دا
رساله خو صرف د طالبِ انصاف دپاره اُولیکلے شوه او د
هغۀ جاهلانو د مقابلے دپاره چه هغوی عوام الناس ګمراه
کوی نو دا رساله هر مُلا او امی ته په آسانئ سره فائده
ورکوی۔

اَسْئَلُ اللّٰه سُبْحَانَهٗ اَنْ يَّتَقَبَّلَهَا مِنِّیْ وَيَنْفَعَ بِهَا الْمُسْلِمِيْنَ
آمِيْن۔

❁❁❁❁❁❁❁

د مبتدعینو د شبهاتو جوابات

اوله شبهه : چه حدیث ضریر البصر کښې د« یامحمد» لفظ راغلے دے نو هغۀ دوی دلیل ګرځولے دے او هغۀ حدیث په ترمذی، ابن ماجه او المستدرك وغیره کښې راغلے دے۔

جواب : ددے شبهے جواب دا دے چه دے حدیث کښې د علماؤ دوه قوله دی۔ اول د علامه سهوانیؒ دے چه هغۀ په صیانة الانسان ص (۱۲۵) کښې فرمائی : دا حدیث ضعیف دے ځکه ددے په سند کښې (ماهان بن عیسیٰ) سیء الحفظ دے (وَثَّقَهٗ جَمَاعَةٌ وَضَعَّفَهٗ آخَرُوْنَ بِسُوْءِ حِفْظِهٖ وَكَثْرَةِ اَوْهَامِهٖ)

دارنګه ابوجعفر المدنی الانصاری المؤذن پکښې مجهول راوی دے، (وَقَالَ عَلِیٌّ : اِنَّهٗ لَايُعْرَفُ رِوَايَةُ شُعْبَةَ عَنْ اَبِیْ جَعْفَرِ الْمَدَنِیِّ هٰذَا وَلَا رِوَايَةَ لِاَبِیْ جَعْفَرٍ هٰذَا عَنْ عُمَارَةَ بْنِ خُزَيْمَةَ) ۔

۲- دویم قول : شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ پہ فتاویٰ (۱۶۷/۱) او شیخ محدث البانیؒ پہ صحیح ابن ماجه، صحیح الجامع الصغیر، مشکوة المصابیح کښ فرمائی : دا حدیث صحیح دے لیکن ددے نه په مخلوق باندے استغاثه کولو استدلال خطاء دے ځکه پدے کښ خو د ژوندی سړی په دعاء وسیله شوے ده لکه په هغے کښ داسے الفاظ دی :

(اُدْعُ اللّٰهَ اَنْ یُّعَافِیَنِیْ).

(اے د الله نبی ! د الله نه اُوغواړه چه ما روغ کړی)

(کذا فی اوضح الاشارة فی الرد علی من اجاز الممنوع من الزیارة ص (۲۸۱) .

او کلمه د «یامحمد» نه خو قرآن کریم منع کړیده نو د هغے جائز کول پدے حدیث چه ډیر احتمالات لری د قرآن خلاف دے۔

بله وجه دا ده چه دا آواز مخامخ کړے شوے دے نو پدے باندے استدلال کول چه نداء غائب ته جائز ده – دا غلطه خبره ده، کما فعل البلخی۔

علامه عبد السلام خضر الشقیریؒ په السنن

والمبتدعات (۲۶۰) کښ لیکی :

وَحَدِیْثُ الْاَعْمٰی اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ وَاَتَوَسَّلُ اِلَیْكَ بِنَبِیِّكَ اَلْحَدِیْثُ صَحِیْحٌ غَرِیْبٌ وَهُوَ تَوَسُّلٌ بِدُعَاءِ النَّبِیِّ ﷺ فَقَدِ اسْتَجَابَ اللّٰهُ دُعَاءَهٗ فَرَدَّ بَصَرَ الضَّرِیْرِ فَهُوَ مُعْجِزَةٌ لِلنَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ عَظِیْمَةٌ)۔

یعنی دے حدیث کښ د رسول الله ﷺ معجزه ذکر ده او آوازونه غیر الله ته پکښ نشته)۔

او دارنګه په البراهین القاطعة کښ خلیل احمدؒ لیکلی دی:

اقول: اس قصہ میں تو خود فخر عالم زندہ اس عالم میں تھے اور آپ ﷺ کے ہی حکم سے یہ عمل ہوا تھا آپ ﷺ کی خدمت میں ہی حاضر تھے الخ ص (۲۲۲)

د عبارت حاصل دا دے چه پدے کښ غائب ته آواز نهٔ شته بلکه رسول الله ﷺ مخامخ وو۔ او د هغه په حکم سره دا عمل شوے وو۔ اُوګوره التوسل للمحدث الالبانی۔

او هرچه «یامحمد» دے نو د هغے د وئیلو نه خو مخامخ او غائبانه قرآن کریم کښ منع شوے ده۔ نو دے حدیث کښ هیڅ دلیل نشته په جواز باندے۔

او دا حدیث شیخ محمد طاهرؒ په «البصائر» کښ په

پوره تفصیل سره ضعیف کړیدے هلته ئے اُوګوره
(۱۳۵- ۱۴۰)

OOOOOOO

دویمه شبهه :

د دوی دا ده چه یو سړے به عثمان رضي الله عنه خوا ته د یو حاجت
دپاره راتلو خو هغهٔ به نهٔ پوره کیدو نو عثمان بن حنیف
رضي الله عنه ورته دغه دعاء د ضریر البصر اُوخودله نو حاجت ئے پوره
شو نو دے نه صراحةً معلومه شوه چه غائب ته آواز جائز
دے او دا حدیث طبرانی فی الصغیر، جامع الصغیر،
الترغیب والترهیب، مجمع الزوائد ، انجاح الحاجة شرح
ابن ماجه (۱۰۰) کښ هم راوړے دے۔

جواب : ددے شبهے جواب دا دے چه دا روایت سنداً
ضعیف دے، پدے روایت کښ یو راوی دے «روح بن
صداح» او هغهٔ ضعیف دے۔
(قَالَ ابْنُ عَدِيّ ضَعِيفٌ عِنْدَ الْجُمْهُوْرِ، وَقَالَ ابْنُ يُوْنُسَ
يَرْوِىْ اَحَادِيْثَ مُنْكَرَةً . كَمَا فى التوصل ص (۲۳۷)
۲- دارنګه دا روایت د الفاظ او متن په اعتبار هم خطاء
دے ځکه عثمان رضي الله عنه ولے ددے سړی حاجت نهٔ پوره کولو آیا

هغهٔ ظالم وو (کلا وحاشا) او دارنګه عثمان بن حنیف آیا
په توسل بالذوات قائل وو ؟ هیڅ کله داسے نهٔ ده۔
(انظر التوصل الى حقيقة التوسل ص (۲۳۴ و ۲۳۵)
دارنګه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په خپله فتاوی کښ
فرمائی: دا حدیث ضعیف دے (۱/۲۷۵/۲٦٦)
په اوضح الاشارة کښ لیکی :
(اِنَّ هٰذَا الْحَدِيْثَ مَعْلُوْلٌ بِعِدَّةِ عِلَلٍ كَمَا ضَعَّفَهَا صَاحِبُ
صِيَانَةِ الْاِنْسَانِ وَشَيْخُ الْاِسْلَامِ ابْنُ تَيْمِيَّةَ وَذَكَرَ الْعِلَلَ مُفَصَّلَةً
(۲۸۵/۲۸٦)
ټولو علماؤ دا حدیث ضعیف ګرځولے دے۔

دریمه شبهه :

دا ده چه عبد الله بن عمر رضي الله عنه «یارسول الله» «وامحمداه»
وئیلے دے کله چه د هغهٔ خپه بوډئ (میړی) شوے وه لکه
الادب المفرد د بخاریؒ (۲۵۰) کښ راغی او ابن سنیؒ او
نوویؒ په کتاب الاذکار (۲۷۱) کښ راوړے دے۔
ددے شبهے جوابونه دا دی : چه دا حدیث په الادب
المفرد کښ پدے الفاظو نقل دے :
(حَدَّثَنَا اَبُوْنُعَيْمٍ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنْ اَبِىْ اِسْحَاقَ عَنْ عَبْدِ

رَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ : خَدِرَتْ رِجْلُ ابْنُ عُمَرَ فَقَالَ لَهٗ رَجُلٌ
كُرْ اَحَبَّ النَّاسِ اِلَيْكَ فَقَالَ : مُحَمَّدٌ)۔

د ابن عمر ﵁ خپه بوډۍ (میږی) شوه نو چا ورته
وئیل: چه خپل محبوب رایاد کړه یعنی د خپل محبوب
وم واخله نو دا تجربه ده چه د محبوب د نوم د یادولو په
ـه خپه صحیح کیږی نو هغهٔ د محمد ﷺ نوم
خستو نو دے روایت کښې آواز په «یامحمد» سره نشته
نهٔ مدد غوختل د غیر الله نه شته او نهٔ پکښې نداء غائب
ه شته او دا قسم روایت پدے الفاظو امام نوویؒ په کتاب
ذکار (۲۷۱) کښې راوړیدے:

(عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ : خَدِرَتْ رِجْلُ رَجُلٍ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ
نُ عَبَّاسٍ : اُذْكُرْ اَحَبَّ النَّاسِ اِلَيْكَ فَقَالَ مُحَمَّدٌ ﷺ فَذَهَبَ
خدْرُهٗ)

(د ابن عباس ﵁ په مجلس کښې د یو سړی خپه بوډۍ
وه نو ابن عباس ﵁ ورته اُوفرمائیل، تاته چه څوك
حبوب وی هغهٔ رایاد کړه، هغهٔ محمد ﷺ رایاد کړو نو
صحیح شو)

نو پدے روایت کښې هم «یامحمد» نشته او نهٔ نداء غائب

ته شته او نهٔ ابن عباس ﵁ دا وئیلی دی :

(اِسْتَغِثْ بِاَحَبِّ النَّاسِ)

(مدد اوغواړهٔ یا آواز اوکړه خپل محبوب ته) ځکه صحابه کرام د شرك دشمنان وو او د شرك دُعاة (داعیان) نهٔ وو لکه دا اُوسنی اهل بدعت چه گمراهی ته دعوت ورکوی۔

لیکن د دوی شبهه په بل روایت د هیثم بن حنش عن ابن عمر کښې ده چه په هغے کښې دا لفظ دے (یامحمد) او هغهٔ په الادب المفرد کښې نشته صرف کتاب الاذکار د نوویؒ کښې دے چه منقول دے د ابن السنی ص (۶۰) نه۔

د هغے جوابونه ډیر دی یو دا چه دا نداء شوقیه ده او نداء شوقیه په نزد د بعض علماؤ جائز ده۔

کما فی البراهین القاطعة (۲۲۰)

دویم جواب دا دے چه دوه روایته د ابن عمر د کلمے د (یا) نه خالی دی او یو روایت کښې (یا) حرف راغلے دے او هغهٔ روایت ضعیف دے سند ئے دا دے :

(حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مُحَمَّد بْنِ الْبَرْدَعِيِّ حَدَّثَنَا حَاجِبُ بْنُ سُلَيْمَانَ ثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُصْعَبٍ ثَنَا اِسْرَائِيْلُ عَنْ اَبِيْ

ـحَاقَ عَنِ الْهَيْثَمِ بْنِ حَنَشٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ
حديث) پدے سند کښې هيثم بن حنش مجهول راوی
غلے دے۔

دويم محمد بن مصعب دے (قَالَ الْحَافِظُ فِی التَّقْرِيْبِ
ـدُوْقٌ كَثِيْرُ الْغَلَطِ وَفِیْ تَهْذِيْبِ التَّهْذِيْبِ عَنِ ابْنِ مَعِيْنٍ لَيْسَ
ـیْءٍ وَقَالَ الْبُخَارِیُّ كَانَ ابْنُ مَعِيْنٍ سَیِّءُ الرَّأْیِ فِيْهِ وَقَالَ
ـنَّسَائِیُّ ضَعِيْفٌ وَقَالَ ابْنُ حِبَّان سَاءَ حِفْظُهٗ فَقَالَ يُقَلِّبُ
ـسَانِيْدَ وَيَرْفَعُ الْمَرَاسِيْلَ لَايَجُوْزُ الْاِحْتِجَاجُ بِهٖ).

او دارنګه په دے روایت کښې حاجب بن سلیمان دے۔
(قَالَ الْحَافِظُ فِیْ تَهْذِيْبِ التَّهْذِيْبِ قَالَ مَسْلَمَةُ بْنُ قَاسِمٍ
ـادِيْثُهٗ مُنْكَرَةٌ وَفِیْ تَقْرِيْبِ التَّهْذِيْبِ صَدُوْقٌ يَهِمُ مِنَ الْعَاشِرَةِ)

دويم سند ابن سنیؔ ددے روایت داسے راوړے دے:
(اَخْبَرَنِیْ اَحْمَدُ بْنُ حَسَّان الصُّوْفِیُّ حَدَّثَنَا عَلِیُّ بْنُ جَعْدٍ ثَنَا
ـهَيْرٌ عَنْ اَبِیْ اِسْحَاقَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَعْدٍ الخ وَفِیْ هٰذَا
ـسَنَدِ اَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ الْجَبَّارِ الصُّوْفِیُّ وَهُوَ وَاِنْ كَانَ ثِقَةً لٰكِنْ
ـوَ صَاحِبُ الْحَدِيْثِ الْمُنْكَرِ الَّذِیْ يَرْوِيْهِ اَنَّ النَّبِیَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ
ـذِیْ حَمْلًا لِاَبِیْ جَهْلٍ كَذَا فِیْ لِسَان الميزان (١/١٥٢)
ـهی، البصائر من (٨٤/الی ١٨٩) ـ

نو ثابته شوه چه د دوی استدلال په ضعیف یا موضوع یا په تاویلی ماویلی باندے وی، نص د قرآن او سنت نه نشی پیش کولے۔ والحمد لله۔

څلورمه شبهه :

نداء د خالد بن الولید :

لکه البدایه والنهایه کښې راځی (٦/٣٢٤)

(وَنَادٰی خَالِدٌ شِعَارَ الْمُسْلِمِيْنَ وَكَانَ شِعَارُهُمْ يَوْمَئِذٍ يَا مُحَمَّدَاهُ) ـ

دا د مسلمانانو شعار وو یعنی د شپے نوم ئے دا ایخودے وو۔

اول جواب : دا دے چه دا قصه سند نۀ لری، په بے سنده قصو عقیده ثابتول د مسلمان، خصوصاً د عالم کار نۀ دے۔

دویم دا چه پدے روایت کښې نداء نشته بلکه دا نوم دے د شپے پدے کښې استغاثه مطلوب نۀ ده ځکه که استغاثه او فریاد مقصود وے نو داسے به ئے وئیلی وے یا محمد انصرنا) لیکن صحابه کرام والحمد لله پاك وو د شرك د شائبے نه او د هر قسم کلماتِ مو همه بالشرك نه نو ددے نه

استدلال کول د جهلاؤ او د اهل الزیغ طریقه ده همیشه
پاره مشرکین او مبتدعین او دهریه د داسے قسم
جملاتو بے سنده قصونه استدلال کوی او د هغه کتابونو
رسالونه استفاده کوی چه یا مشرك لیکلی وی یا بے
سنده کتاب وی، همیشه له دوی نه دلیل د قرآن او د سنت
صحیحه غواړه نو دوی به حیران وی او هیڅ جواب به نهٔ
ی درکولے (الحمد لله) چه د داسے قسم مشرکانو په مقابله
کښ الله پاك حق والا پیدا کړل (لِكُلِّ فِرْعَوْنَ مُوسٰى) ما چه
ا رساله لیکله نو ما ته ددے مشرکینو ډیرے درسی رسالے
لاؤ شوے چه هغے کښ ئے خالص د شرك ثابتولو کوشش
ړے وو نو د نهایت غصے په وجه ما دا یو څو کلمات
اجمع کړل چه د مشرکینو زړه پرے اُوسوزی۔

اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ اِنْ شَاءَ اللّٰهُ۔

پنځمه شبهه :

دا ده چه حدیث د بلال بن الحارث کښ راځی :

(عَنْ مَالِكِ الدَّارِ قَالَ اَصَابَ النَّاسَ قَحْطٌ فِیْ زَمَنِ عُمَرَ بْنِ
خَطَّابِ فَجَاءَ بِلَالُ بْنُ الْحَارِثِ اِلٰی قَبْرِ النَّبِیِّ عَلَیْهِ السَّلَامُ
قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِسْتَسْقِ لِاُمَّتِكَ فَاِنَّهُمْ قَدْ هَلَكُوْا الحدیث)

رَوَاهُ الْبَیْهَقِیُّ فِیْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ وَالْبُخَارِیُّ فِی التَّارِیْخِ الْکَبِیْرِ
(٣٠٤) وفتح الباری (٤١٣) وابن الاثیر فی الکامل
(٥٥٦/٢) والاصابة فی (١٦٤/٦) الخ)

(بلال بن الحارث ؓ راغے قبر د رسول الله ﷺ ته ئے
آواز اوکړو یارسول الله ! باران اُوغواړه خپل امت لره نو دے
روایت نه معلومیږی چه یارسول الله وئیل جائز دی)۔

ددے جوابونه واوره :

اول دا چه آیا استسقاء به رسول الله ﷺ د مړو نه کوله
او کهٔ نهٔ مونږ به ئے کاوه، هیچرے د مړو نه استسقاء
شریعت جائز نهٔ ګنړی۔

★ دویم دا چه دے حدیث کښ واقعه د خوب راځی او
خوب لره په شریعت کښ څهٔ حیثیت نشته۔

★ دریم دا چه دهٔ چه رسول الله ﷺ ته آواز اُوکړو آیا
هغهٔ ورلره استسقاء اُوکړه؟ نهٔ ئے ده کړے۔

دارنګه دے حدیث کښ نور ډیر علل دی چه هغهٔ کتاب
التوصل الی معرفة التوسل المشروع والممنوع
(٢٤٨)ذکر کړی دی۔ هرچه سند ددے روایت دے نو فتح
الباری کښ داسے الفاظ راځی (جاء رجل) یو سړے راغے چه

هغۀ پته نۀ لږی چه څوك دے روایت د مجهول لره اعتبار
ۀ شته دارنګه د هغۀ عمل حجت بالکل نۀ شی کیدے۔

دویم دا چه کۀ دا سړے بلال بن الحارث شی نو د هغه په سند کښ سیف بن عمر الضبی الاسدی دے :

(وَيُـقَـالُ التَّـمِيْـمِـيُّ وَيُقَالُ السَّعْدِيُّ الْكُوْفِيُّ وَقَدْ ذُكِرَ هٰذَا لـرَّجُـلُ فِيْ مُصَنَّفِ الْفُتُوْحِ وَالرِّدَّةِ مِنَ الْمَجْهُوْلِيْنَ وَقَالَ عَبَّاسُ ـنُ يَـحْيٰى ضَعِيْفٌ، وَقَالَ اَبُوْدَاوُدَ : لَيْسَ بِشَيْءٍ وَقَالَ اَبُوْحَاتِمٍ تْرُوْكٌ، وَقَالَ ابْنُ حِبَّانَ مُتَّهَمٌ بِالزَّنْدَقَةِ.)

او سیف بـن عمر الضبی ډیر ضعیف بلکه زندیق راوی دے او مـجهول هم دے په نزد بعضِ علماؤ نو دا قسم روایت لره هیـخ اعتبار نـۀ شتـه چـه د عقیدے یوه مسئله ډِے په داسے غـلـط او ضعیف یا موضوع روایت باندے ثابته شی (التوصل ۲۵۲)

او تاریخ کبیر د بخاریؒ کښ دا روایت داسے راغلے :

(قَالَ عُمَرُ : يَارَبِّ لَا آلُوْ اِلَّا مَا عَجَزْتُ عَنْهُ۔ قَالَهٗ فِیْ قَحْطٍ)

(اے الله ! زۀ د قـوم ډیـر رعایت کوم او کوتاهی نه کوم مګر کـوم شـی چـه زمـا د وسـع نـه کیـږی نـو تـه مـا پـه هغے مۀ رانیسه۔ د قحط په وخت کښ دا خبره کړے وه)

نـو دا مبتـدعیـن تـاریـخ کبیـر د بخاری هم پیش کوی او حال دا دے چه په هغے کښ د دوی څۀ شبهه نشته۔

انـظـر البـصـائـر للشیخ محمد طاهر (۱۲۸/۱۲۹) مفصلاً میزان الاعتدال۔

شپږمه شبهه :

دا ده چـه یـو روایت کښ «يَا عِبَادَ اللهِ اَعِيْنُوْنِيْ» راغلی دی۔ مـطـلـب دا چه کوم شخص نه په صحراء کښ سورلئ ورکـه شـی یـا تـرے لار خطاء شی نو داسے ډِے اُووائی چه اے عبـاد الله ما سره مدد اُوکړئ نو دده سره به مدد اُوشی نو دے روایـت کـښ غـائـب تـه آواز شوے دے او دا روایت نوویؒ په کتاب الاذکار (۲۰۱) کښ راوړے دے۔ مفصلًا۔

ددے شبهے جوابونه دا دی :

(قَالَ فِيْ مَجْمَعِ الزَّوَائِدِ (۱۳۲/۱۰) فِیْ هٰذَا الْبَابِ ثَلَاثُ اَحَادِيْثُ اثْنَانِ ضَعِيْفَانِ اَلْاَوَّلُ عَنْ عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِذَا اَضَلَّ اَحَدُكُمُ الحدیث رواه الطَّبَرَانِیُّ وَرِجَالُهٗ قَدْ وُثِّقُوْا عَلٰى ضُعْفٍ فِیْ بَعْضِهِمْ اِلَّا اَنَّ يَزِيْدَ بْنَ عَلِيٍّ لَمْ يُدْرِكْ عُتْبَةَ) ۔

دا روایت د دوه وجو نه ضعیف دے یو په دے روایت کښ

دوه ضعیف راویان دی۔ دویم دا چه حدیث منقطع دے۔

۲- دویم حدیث : عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ اِذَا انْفَلَتَتْ دَابَّةُ الحدیث) رَوَاهُ اَبُوْيَعْلٰى وَالطَّبَرَانِیُّ وَفِيْهِ مَعْرُوْفُ بْنُ حَسَّانٍ وَهُوَ ضَعِیْفٌ) (دا حدیث هم ضعیف دے، انظر هذا التفصیل فی التبیان (١٤٦)

وَقَالَ الذَّهَبِیُّ قَالَ ابْنُ عَدِیٍّ مَعْرُوْفُ بْنُ حَسَّانٍ مُنْكَرُ الْحَدِیْثِ وَزَادَ ابْنُ حَجَرٍ فِی اللِّسَانِ مَجْهُوْلٌ)۔

او دریم حدیث کښ دا قسم الفاظ نشته بلکه په هغے کښ ذکر د ملائکو شوے دے، د غائب یا د مړی کوم ذکر په کښ نشته۔ نو د داسے قسم ضعیف روایاتو نه شرك ثابتول او یا په هغے استدلال کول د جاهلانو کار دے۔ دا تفصیل په البصائر کښ هم اُوګوره (١٩٠/١٩٢)۔

دارنګه رشید احمد ګنګوهی فرمائی : دے کښ نداء مړو ته نشته بلکه غائب او مړو ته آواز کول شرك دے اُوګوره (١/ ٨٩/ ٨٨/ ٩٠) دارنګه اُوګوره ضعیف الجامع الصغیر للمحدث الالبانی ص (٣٨٣) رقم الحدیث (٤٤٠) وسلسلة الاحادیث الضعیفة والموضوعة (٦٥٥/٦٥٦) تفصیلاً مع الرد علی هؤلاء المشرکین باتم تفصیل واوضح

بیان فانظر ذلك فانه هام جداً جزی الله الشیخ الالبانی عنا وعن الاسلام !۔

OOOOOOO

اوومه شبهه :

دا ده چه کعب بن حمزه په اشعارو کښ «**یا محمد**» وئیلے دے (یَا مُحَمَّدُ یَا مُحَمَّدُ یَا نَصْرَ اللهِ اِنْزِلُ).

انتهیٰ کذا فی فتوح الشام (١٩٦) للواقدی.

دارنګه په بهنسا جنګ کښ د مسلمانانو دا شعارو و (یَامُحَمَّدُ، یَا مُحَمَّدُ) (یَا نَصْرَ اللهِ اِنْزِلُ).

فتوح الشام (٢١٨/١) للواقدی۔

ددے شبهے **جواب** دا دے چه واقدی مؤرخ دے چه علماؤ د هغه په باره کښ داسے وئیلی دی :

(قَالَ اَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ هُوَ كَذَّابٌ يَقْلِبُ الْاَحَادِيْثَ وَقَالَ ابْنُ مَعِيْنٍ لَيْسَ بِثِقَةٍ وَقَالَ مَرَّةً لَا يُكْتَبُ حَدِيْثُهٗ وَقَالَ الْبُخَارِيُّ وَاَبُوْحَاتِمٍ مَتْرُوْكٌ، وَقَالَ اَبُوْحَاتِمٍ وَالنَّسَائِيُّ : يَضَعُ الْحَدِيْثَ وَقَالَ الدَّارَقُطْنِيُّ فِيْهِ ضُعْفٌ وَقَالَ ابْنُ عَدِيٍّ اَحَادِيْثُهٗ غَيْرُ مَحْفُوْظَةٍ وَالْبَلَاءُ مِنْهُ وَقَالَ ابْنُ الْمَدِيْنِيِّ يَضَعُ الْحَدِيْثَ وَقَالَ اِسْحَاقُ بْنُ الطباعِ : رَاَيْتُ الْوَاقِدِيَّ فِيْ طَرِيْقِ مَكَّةَ يُسِيْءُ

صَّلاةَ وَقَالَ ابْنُ رَاهُوِيَهُ هُوَ عِنْدِیْ مِمَّنْ يَضَعُ الْحَدِيْثَ ثُمَّ قَالَ ذَّهَبِیُّ فِی الْمِيْزَانِ بَعْدَ مَا ذَكَرَ الْاَقْوَالَ فِيْهِ وَاسْتَقَرَّ الْاِجْمَاعُ لٰی وَهْنِ الْوَاقِدِیِّ۔ ميزان الاعتدال (٦٦٢/٤) الی (٦٦٦) ـالَ ابْنُ حَجَرٍ فِیْ تَقْرِيْبِ التَّهْذِيْبِ : اَلْوَاقِدِیُّ مَتْرُوْكٌ مَعَ سَعَةِ ـمِهٖ (٣١٢/١)

ددے عبارت حاصل دا دے چه د مذکوره روایاتو نقل ونکی کذاب دروغجن سړے دے۔

دویم جواب دا دے چه حجت صرف په کلام د الله او په ـادیثو د رسول الله ﷺ کښې دے په بل کس کښې هیڅ ـجت نشته۔ دریم دا چه دے روایاتو کښې د الله نه مدد ـوختل دی، د رسول الله ﷺ نه پکښې مدد غوختل ـنته نو د جاهلانو استدلال پرے صحیح نۀ دے۔

اتمه شبهه:

اشعار د نابغة الجعدی :

دارنګه اشعار د صفیة رضی الله عنها۔ دارنګه اشعار د ـنب بنت علیؓ دوی پیش کوی چه په بعضو کښې لفظ د رسول الله وغیره راغلے دے۔

ددے شبهے جوابونه، اول دا چه اشعارو لره دین کښې څه

اعتبار نشته اول به دلیل د قرآن او سنت صحیحه نه راوړے بیا به تائید کښې اقوال پیش کړے او چه تۀ صرف اقوال د علماؤ دلیل ګرځوے نو دا څۀ دلیل نشی کیدے۔

دویم دا چه د نابغه په اشعارو کښې دا الفاظ دی

وَيَا قَبْرَ النَّبِيِّ وَصَاحِبَيْهِ ۔۔۔ اَلَا يَا غَوْثَنَا لَوْ تَسْمَعُوْنَا

پدے بیت کښې د قبر نوم اخستل شوے دے او په آخر کښې دا لفظ دے (لو تسمعونا) کچرته تاسو اوریدل کولے شئ اے قبر د رسول الله او اے قبر د ابوبکر او عمر، نو پدے روایت کښې رد دے پدے چه غائب او مړی ته آواز کول بے فائدے دی۔

بله دا چه ددے روایت سند په الاستيعاب د ابن عبد البرّ (٥٨٦/٣) په حاشیه د الاصابة) کښې نۀ دے ذکر کړے نو په بے سنده قصه دین ثابتول د اهل زیغو کار دے، قرآن او سنت زمونږ او ستاسو د عقیدے دپاره کافی دی، دے باب کښې قصو ته حاجت نشته۔

او په مرثیه د صفیه رضی الله عنها کښې په اشعارو کښې داسے الفاظ نقل دی :

اَلَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ كُنْتَ رَجَاءَ نَا | وَكُنْتَ بِنَا بَرًّا وَلَمْ تَكُ جَافِيًا

دا حدیث اولًا ضعیف دے، منقطع دے په مینځ د عروة ـن الزبیر او د صفیه کښې ځکه عروه په سنه (۲۹) کښې ـیدا شوے دے او صفیه رضی الله عنها د عروه نه نهه کاله ـخکښې وفات شوے ده، کما فی التوصل (۳۲۴/۳۳۲)

دویم دا چه دا روایت مجمع الزوائد (۳۹/۹) کښې راوړے ـے او هغه د مرثیے (ستاینے) روایت دے پدے کښې نداء ـرض نهٔ وی بلکه صرف توَجّع او تَحَزُّن (غم او خفګان ـکاره کول) غرض وی،لکه علماء پدے خبره پو هیږی۔

نو پدے استدلال کول هم غلط دی، او هرچه آواز او ـعار د زینب بنت علیؓ دی نو هغه دا دے :

(یَا مُحَمَّدَاهُ، یَا مُحَمَّدَاهُ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْكَ وَمَلَكُ السَّمَاءِ الخ

ـداية والنهاية (۱۹۳/۸)

د هغے جواب دا دے چه زینب یوه زنانه ده د هغے قول په ـت باندے څهٔ دلیل نهٔ شی کیدے، بلکه قرآن او حدیث ـیول پکار دی، نو اے مسلمانانو د هر رطب او یابس ـمده او اُوچ) پسے خپل دین مهٔ تابع کوئ۔

دویم دا چه سند ددے روایت راوړل پکار دی او هغه کوم دے ؟ ځکه چه دین کښې بے سنده خبرو له اعتبار نشته۔

دریم دا چه دا خو مرثیه ده چه د حسین رضی الله عنها په باره کښې وئیلے شوے ده او په مرثیه کښې خطاب کول مقصد نهٔ وی بلکه د ژوندو زړهٔ نرمول مقصد وی، لکه د ابن کثیرؒ په البداية والنهاية (۲۱۰/۸) کښې دی۔

نو په اشعارو او غیر مسند اقوالو باندے خپل دین بربادول او خپله عقیده او د عوامو مسلمانانو عقیده ګنده کول نهٔ دی جائز، آیا تاسو دا نهٔ دی اوریدلی چه په باب د عقیده کښې یقینی دلائلو ته ضرورت دے، او په ظنیاتو او ضعیف روایاتو عقیده نهٔ ثابتیږی۔

بلکه صحیح قول دا دے چه په ضعیف السند حدیث مرفوع باندے یو عمل نهٔ شی مشروع کیدے نو پاتے لا مقطوع او ضعیف او یا شعر او بیت او مرثیه باندے خپل دین ثابتول د جُهلاؤ کار دے، هر مسلمان له پکار دی چه د خپل ایمان حفاظت اُوکړی او د مشرکانو او مبتدعینو په غلطو روایاتو او مزخرفو خبرو دوکه نهٔ شی، ځکه د هرے خبرے تپوس به الله پاك زمونږ او تاسو نه کوی، خصوصاً د

ایمان تپوس خو ډیر ضروری دے لکه څرنګ چه ایمان راوړل فرض دی۔

دارنګه د ایمان د جوړیدو او خرابیدو علم هم فرض دے، نو مسلمان بحیثیت مسلمان ډے د کلمات شرکیه او بدعیه نه ځان اُوساتی، دا وجه ده چه رسول الله ﷺ مونږ ددے الفاظو نه منع کړی یو، چه یو انسان اُووائی : (ما شاء الله وشئت) یعنی کله چه د الله خوښه شی او ستا خوښه شی دارنګه (اَنَا فِیْ حَسْبِكَ) (زه تا لره کافی یم) وَمَالِیْ اِلَّا اَنْتَ) (زما نور څوك نشته صرف ته ئے) (وَخَبُثَتْ نَفْسِیْ) (زما نفس خبیث شو) (وَیَا خَیْبَةَ الدَّهْرِ وَرَاعِنَا) (اے نا امیدی د زمانے او راعنا لفظ) ددے الفاظو د وئیلو نه مونږ منع شوی یو، دارنګه د ټولو موهم الفاظو نه منع راغلے ده کما فی رد المحتار والقرطبی (۵۷/۲) والجواب الکافی لابن القیم (۱۲۵)

و سبحانك اللهم وبحمدك اشهد ان لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك وصلی الله علی نبینا محمد وآله وصحبه وسلم تسلیماً کثیراً۔

خاتمه

ددے رسالے حاصل دا دے چه ددے مذکوره الفاظِ شرکیه او بدعیه نه ځان ساتل فرض دی او کوم الفاظ چه مُوهِمُ د شرك وی اګرکه ستا عقیده د شرك نه ده خو بیا هم ځان ساتل ترے پکار دی، بعض د هغه الفاظِ موهمه ؤ نه « یارسول الله» وئیل دی که دا چغه د استغاثے دپاره وی نو بیا شرك دے، او دارنګه کۀ غائبانه وی، او که د رسول الله ﷺ په ژوند کښ مخامخ شوی وی نو بعینهٖ ادب او احترام دے، او پس د مرګ نه د قبر په خوا کښ بهترین درود چه متفق علیه روایاتو کښ نقل دے هغه: « اللهم صل علی محمد وعلی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انك حمید مجید، اللهم بارك علی محمد وعلی آل محمد کما بارکت علی ابراهیم وعلی آل ابراهیم انك حمید مجید»۔ (جلاء الافهام)

دا درود وئیل پکار دی او ددے درود نه بل څۀ ته اعراض

کول نقصان دے، او کۀ «السلام علیك یارسول الله» اُووائی
د قبر په خوا کښې نو دا د صحابو نه نقل شته لکه موطأ
امام مالك کښې د ابن عمر ﵁ روایت دے چه هغۀ به داسے
سلام اچولو کله به چه د سفر نه راغے او د رسول الله ﷺ د
قبر زیارت به ئے کولو، کما فی مجموعة الفتاوی)

او هر چه کلمه د «یامحمد» ده نو هغۀ په ټولو طریقو
سره حرامه ده، کۀ غائبانه وی او که مخامخ وی او که د قبر
په خوا کښې وی۔ ځکه هغه شرك دے یا بے ادبی ده، دارنګه
نداء غائب ته د مدد دپاره حرامه ده۔ او کۀ مدد دپاره نۀ وی
نو موهِم د شرك ده او لغوه ده او ددے نه اجتناب (پرهیز)
لازم دے او دا د دین ضروری مسئله ده په ضعیف او
منکرت روایاتو نۀ ثابتیږی، او دارنګه په شروحو او
حواشیو او په مجملاتو نۀ ثابتیږی، هرمسلمان له د حق
اتباع پکار ده د ضد او تعصب نه به الله تعالیٰ ته توبه مونږ
ټول اُوباسو۔

وَسُبُحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ
اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ۔

تمت یوم الاحد ۲۲/صفر المظفر سنه (۱۴۱۲هجری)
بعد صلوة العصر
فی جامعة تعلیم القرآن والسنة مسجد حمزة
رضی الله عنه بیرون گنج گیټ بشاور باکستان
بیراع العبد الضعیف "ابومحمد امین الله" والحمد لله رب
العالمین.